او که تاسی د دوهم ځل لپاره ووایاست چې اتوم درې زرې لری او دا تثلیث شو، نو زه به دا یو څه وڅیړم:

په هسته کې نیوترون او پروتون دی چې نیوترون خنثی ذره ده، او پروتون مثبت چارج لر ي، او په مدارو کې الیکترون دی چې منفی چارج لر ي چې په واقعیت ک ي دا درې سره زرې سره مخالفې دي او یو شانته نه دي؛ دا ځکه چې یوه زره به یا چارج لري او یا به یې نلری، که یې لر ي یا به مثبت چارج لري او یا به هم منفی چارج لري، چې دا ټول سره په متضاد حالت کې دي، یعنې که مثبت و نو منفې نشي کیدای، که خنثی و نو بیا چارج نشی درلودلای، داس ي نشي کیدلای لکه ستاسو د تثلیث عقیده چې خدای، روح القدوس او عیسی علیه السلام دا ټول سره یو د ی، اوس د دې څیړنو مطابق کوم یو خنثی دی؟؟؟ اعوذ من ذالک، نو په یوه ټکې کې در ته وایم چې حضرت عیسی علیه السلام د بیولوژ ي او کیمیا د دې اصولو مطابق نه یواځ ي ستاسو تثلیث باطل ثابت شو بلکې وحدانیت یې ثابت کړ، او هغه دا چې روح القدوس بیل دی، خدای بیل دی او حضرت عیسی علیه السلام بیل دی، او د هر یوه پیژند نه بیله ده، نو سیدنا حضرت عیسی علیه السلام یواځې انسان وه او یو لوی پیغمبر وو او خدای نه وو.

جیمز د دې ځواب په اوریدلو سره بیا د دې جرئت ونکړ چې بله پوښتنه را څخه وکړی.

عقاید

عبدالصمد سیال

بسم الله الرحمن الرحیم

الله تعالی دانړۍ دانسانانولپاره دامتحان دیو ډګرپه توګه پیدا کړي ده ، اوددي لپاره چې انسان مکلف کړي نو عقل یې ورکړی ، ترڅو دښو اوبدو ترمینځ توپیرپرې وکړي ، الله تعالی په دي سترامتحان کې دفلاح اوبریالیتوب لپاره درې څیزونه مقررکړي دي ،

دعقیدي اصلاح ، دعمل اصلاح ، داخلاقو اصلاح.

په دغه درېو وارو کې بیا اهم اوبنیادي شیء عقیده ده ، ځکه چې داعمالو اواخلاقو صحت پرعقیده ولاړدی.

که عقیده صحیح وي ، نو اعمال هم دالله تعالي په وړاندي دقبول وړګرزي.

همدارازداخلاقو ثمره هم انسان ته دعقیدي په سمون سره په لاس ورځې ، اوکه عقیده فاسده وي ، نونه اعمال معتبرګرځي اونه به انسان داخلاقو له ثمري څخه برخمن شي.

په قرآن کریم اونبوي احادیثو کې داریښتینی حقیقت په ډیروضاحت سره بیان شوی الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: (فمن یعمل من الصالحات وهومؤمن فلاکفران لسعیه واناله کاتبون.)

ژباړه: وروسته کوم څوک چې عمل صالح کوي په داسي حال کې چې هغه مؤمن وي نو دده زیار اوهڅي به له نظره ونه غورځول شي اومونږ دهغه دغه سعیې لیکو.

له دي آیت شریف څخه په واضح توګه څرګندیږي چې دصالحو اعمالو مقبولیت یوائې په عقیده اوایمان سره مشروط دی.

همدغه رازدبخاري شریفي په یوه مبارک حدیث کې دي: چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي : انماالاعمال بالنیات: الحدیث ،

ژباړه: بېشکه عملونه په نیتونو سره دي ، نو دفلاح اوکامیاب ۍ دار ومدار دعقیدي اوعمل اصلاح ده ، که چېري له انسان سره دعقیدي اوعمل صالح دولت وي ،نو هغه بېشکه چې بریمن ده ، اوکه دغه ذخیره ونه لري نو دصبا په ورځ به ډېرلوی عملونه هم ورته ګټه ونه کړي .بلکه هرڅه به یې ضائع شوي وي .

ددي مقدمي څخه دعقیدي اهمیت معلوم شو ، اوس به دعقیدي دتعریف اوپیژندګلو ۍ په باب هم باید څه ولیکو .

عقیده عربي لفظ دی له عقد څخه ماخوذ(اخستل شوی) دی چې لغوي يااصلي معنی یې ده «غوټه کول» ،یابندیدل ، اوپه اصطلاح یاشریعت کې دیوڅو بنیادي حقایقوپه باب پوخ یقین کولوته عقیده ویل کیږي.

دشرعي اواصلي معنی ترمنځ یې تړون یامناسبت داده: چې دهمدي پوخ یقین په بنیاد دبنده ټول خیالات اوفکرونه داسې مضبوط شي چې ګني یوله بل سره غوټه کړل شوي دي ، یادهمدي یقین په وجودسره دانسان زړه ، دماغ اونوري ظاهري اوباطني قواوي سره بندي شي اوټول ظاهري اوباطني آلات یې دخدای تعالی جل جلاله ولوري ته متوجه شي.

له دي سره مرادف یعني په معني کې ملګری لفظ دایمان لفظ دی ، چې په لغوي معني کې دزړه باورته وایې ،اواصطلاحي معنی یې هماغه دعقیدي اصطلاحي معنی ده چې دیوڅواساسي حقایقوپه باره کې پوخ یقین کول دي.

هغه حقائق چې دپاخه یقین لرل ورباندي ضروري دي :

لمړی = : له هغه اساسي حقایقوڅخه چې دعقیدي په تعریف کې ورته اشاره وشوه اولنی حقیقت دالله تعالی پروجوداووحدانیت باندي یقین لرل دي.

مطلب داچې الله تعالی واجب الوجودذات دی ،یعني الله تعالی یوداسې ذات دی چې وجودیې لازم اوحتمي دی ،اوله ټولو زمانیاتو ،مکانیاتو اومادیاتوڅخه منزه اوپاک دی ،اوهغه واحد ذات دی ،چې نه په ذات اونه په صفاتو کې هیڅ شریک لري .

اوهغه په ټولو کمالیه صفتونو سره موصوف اوله نقصانیه صفتونوڅخه مبرأ اوپاک دی دهغه صفاتو پیژندل ضروري دي ،یواځي هغه ته فریادکول کیږي ،دهغه تسبیح ویل کیږي.

دوهم =: دالله تعالی پرملائکوباندي داسي یقین کول دي:چې ملائک موجوددي ،له هرقسم ګناهونوڅخه پاک اومعصوم دی ،داسي نوراني جواهردي چې له هرقسم نشو (زیاتوالي)نما (لوی والی) شهوت اوغضب یعني قهرڅخه پاک دي اوله نوروټولو مادي حوائجوڅخه لکه خوراک ،څښاک اهل اوعیال څخه مبرأ دي ، اودخدای جل جلاله دفضل ،کرم ، انعام اواحسان طلب کونکي اوهغه ته دقربت غوښتونکي دي ،

درېیم =: پرآسماني کتابونو باندي یقین لرل دي ، چې دا کتابونه دالله تعالی له لوري په خپل خپل وقت کې په انبیاء کرامو « علیهم الصلواة والسلام » باندي نازل شوي دي.

اوپه دي کتابونو کې الله تعالی وخپلو بندګانو ته دهدایت لاري ښودلي دي ،لکه په قرآن کریم کې چې ډیر ځله دقرآن کریم صفت په هدی سره شوی دی.

اوپه دي هم دایمان راوړل ضروري دي چې دا قرآن دالله تعالی کلام ده ، دقول په شکل کې مګربلا کیف .

اوددي کتابونو نه آخرنی نازل شوی کتاب قران ده ،له هرقسم تغیراوتبدیل څخه ساتل شوی اودمخکینیو کتابونولپاره ناسخ دی.

څلورم = : پررسولانو باندي یقین لرل چې هغوئ « علیهم السلام » دالله تعالی غوره انسانان ،سوچه بندګان اودالله تعالي له لوري دهدایت اونیکي لاري دښودولو لپاره رالیږل شوي ؤ .

اوآخرنی نبي حضرت محمدصلی الله علیه وسلم ؤچې دده په راتګ سره دنبوت معصومه کړۍ پای ته ورسیده اوله ده څخه وروسته بل پیغمبردنیاته نه راځي .

دهغه صلی الله علیه وسلم له نبوت څخه وروسته دنبوت هردعوت ګمراهي اوضلالت بلل کیږي .

اوهغه صلی الله علیه وسلم دثقلینو یعني دپیریانانو اوټولوانسانانو لپاره رالیږل شوی پیغمبرؤ .

له هغه صلی الله علیه وسلم څخه داسلام مبین دین دنړۍ وهرکونج ته خپورشو اوکومو خلکو چې دده صلی الله علیه وسلم په ژوندانه کې پرده ایمان راوړی ، لیدلی اوپه هغه ایمان یې له دنیاڅخه سترګي پټي کړي هغوی ته اصحاب درسول الله صلی الله علیه وسلم ویل کیږي موږ له هغوی ټولو سره یوشانته محبت اوخواخوږي لرو ددوی له جملي څخه له یوه صحابي څخه هم نفرت اوبیزاري نه لرو ،

اوله هغه چاسره بغض کووڅوک چې له صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم سره بغض کوي ، اوله دوی سره محبت دین ایمان اواحسان ګڼو ، له دوی څخه نفرت کفرنفاق اوطغیان بولو .

پنځم =: دقیامت پرورځ باندي یقین لرل چې داورځ راتلونکي ده په دغه ورځ به الله تعالی ټول انسانان بیرته راوپاڅوي اوژوندي به یې کړي ،اوبعینه هغه بدنونه به یې وي اګرکه څه هم درازوالی اوباریکتوب به پکښي وي ، لکه په حدیث شریف کې چې راځي ، ان ضرس الکافرمثل احد ، بېشکه چې دکافرغاښ داحد دغره په شان وي ،

اودجنتیانوبدنونه به باریک وي

ددي مثال دادی لکه یوکوچنی هلک چې ځوان شي ،اجزاوي یې هغه اجزاء وي مګرغټ والی پکې پیداشي ، همداشان بیرته سپین ږیری شي په هغواجزاؤ کې یې باریکي راشي ،

اوپه دغه ورځ به محاسبه کیږي ، الله تعالی جل جلاله به له خپلو ټولوبندګانوسره حساب کتاب کوي اوپه دغه ورځ به مجازات ورکول کیږي ،الله تعالی به خپل معصوم بندګان جنت ته

بیایي او گنهگاروبندگانوته به ځینوته دخپل احسان له مخې عفوکوي اوځیني نوروته به تریوڅه وخته جزاء ورکولو وروسته عفو کیږي.

اوکافران به دوزخ ته داخل کړي ، اوپه دغه ورځ به الله تعالی داعمالو تللو لپاره ترازو کښېږدي ، چې یوه ذره عمل به هم دنیکو اوبدو پوشیده نه شي ،

اوپرعذاب اوانعام دقبرباندي هم دیقین لرل ضروري دي ، ځکه چې په اخبارو کې درسول الله صلی الله علیه وسلم اوداصحابو کرام رضی الله تعالی عنهم کې ثابت دي

القبرروضة من ریاض الجنة اوحفرة من حفرالنیران.

ژباړه: قبردجنت له باغیچویوه باغیچه ده اویاداورله کندو څخه یوه کنده ده

دجنت اودوزخ وجودهم حق دی ، چې دالله تعالی مخلوق دی هیڅ کله نه فناه کیږي ،البتة دځای په اړه یې کوم مصرح نص نه دی موجود ، دوی به په هغه ځا ی کې وی چې دالله تعالی خوښه وي همدغه راز مسلمان صاحب دکبائرو گناهونو به دهمیش لپاره په دوزخ کې نه وي لکه څرنگه چې الله جل جلاله په همدي اړه په قرآن کریم کې فرمایي: ان الله لایغفران یشرک بالله ویغفر مادون ذالک لمن یشاء

ژباړه: بېشکه الله تعالی بخښنه نه کوي هغه چاته چې له ده سره یې شریک جوړکړی اوبخښي ورته هغه څه چې ترشرک کم گناهونه وي هغه چاته چې خوښه یې شي ،

دیادوني وړده چې په گناهونو کې شرک له ټولو نه غټه گناه ده ،همدغه راز داهم باید دمسلمان په عقیده کې راگرزي چې لوی خدای جل جلاله صغیره گناهونه وخپلو بندگانوته په اوداسه ،لمانځه اونورو کفارو سره بخښي ، لکه په قرآن کریم کې چې راځي: ان تجتنبوا کبائر ماتنهون عنه نکفرعنکم سیئاتکم

ژباړه: که تاسو پرهیزوکړئ له هغه لویو گناهونو څخه کوم چې تاسو ورڅخه منع شوي یاست نوموږبه لیري کړو له تاسو څخه ستاسي واړه گناهونه

په احادیثو مبارکهؤ کې ددي بیان شوی چې له سیئات څخه صغائرمراددي اوپه اوداسه ،لمانځه اونوروکفارو سره الله تعالی وخپل بنده ته صغائرمعافوي

شپږم =:پرقدر دخیر اوشرباندي یقین لرل ضروري دي ، چې دااندازه لیکل شوي ده تردي که ددنیاټول خلک راجمع شي کوم څه چې الله تعالی په کائن یعني موجودسره لیکلي وي هغه به معدوم نه کړي ، اوکوم چې یې معدوم لیکلی هغه به موجودنه کړي

او بالآخره ټول هغه څه چې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم له لوري په قطعي اویقیني توگه ثابت وي دهغوی تسلیمول اودهغوی غاړه ښودلوته عقیده اوایمان ویل کیږي.

د مورچل

دارالافتاء

مفتی ابو ماریه

الاستفتاء:

په موسساتوکې دنده تر سره کول

محترم مفتي صاحب ؛ که يوتن دهغه موسساتو سره کار کوي چې دکوم کفري ملک څخه راغلي وي اوپه وطن کې فعاليت کوي نوحکم يې څه دی ؟

الجواب حامدا ومصليا وبعد: ددغه کسانو حکم دفاسقانو د ی مسلمان بايد دکفارو په ځانګړي ډول ديرغلګرو سره هيڅ ډول وظيفه اجراء نکړي ، اودغه موسسي په حقيقت کې ټولي ديرغلګرو دځانګړو پروسو اوپروګرامونو دسرته رسولو په موخه لګيادي .

اوبل ديرغلګرو سره هرډول مرسته حرامه ده ، دوظائفو په اشغال سره اورومرو له هغوئ سره يوډول مرسته سرته رسيږي .

همدارازچې څوک دغه وظائف اشغالوي نودهغوئ سره به اوسيږي اودا اسلامي قوانينو دمخه له کفارو سره يوځای کيدل او اوسيدل سخت حرام دي:

عَنْ سَمُرَةَ بْنُ جُنْدَب عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ «لَا تُسَاكِنُوا الْمُشْرِكِينَ وَلَا تُجَامِعُوهُمْ فَمَنْ سَاكَنَهُمْ أَوْ جَامَعَهُمْ فَهُوَ مِثْلُهُمْ». رواه الترمذي ، و الحاکم وقال «هذا حديث صحيح على شرط البخاري ومسلم ،

ترجمه: حضرت سمرة بن جندب رضی الله عنه ، له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی دی هغه وفرمایل: له مشرکانو سره ، مه اوسېږئ ،او له هغوی سره ، مه

يوځای کيږئ ، څوک چې له کافرانو سره اوسېدل او يوځای کېدل خوښ کړي ، نو هغه په هغو کفارو کې شميرل کيږي .

په يوه بل روايت کې داسې راغلي

عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ أَمَّا بَعْدُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ جَامَعَ الْمُشْرِكَ وَسَكَنَ مَعَهُ فَإِنَّهُ مِثْلُهُ. رواه ابوداؤد ,.

ترجمة: حضرت سمرة بن جندب رضی الله عنه وويل : رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : څوک چې له مشرکينو کافرانو سره يوځای شي ، او له هغوی سره اوسېدل غوره کړي ، نورنو هغه مسلمان د هماغه کفارو اومشرکينو په څېر دی .

وفي الزواجر ١١\١١ وفتاوى الرحيميه ٣٣١\١٠ اوحی الله الی نبی من الانبياء ان قل لقومک لايدخل مدخل اعدائي ولايلبس ملابس اعدائي ولايركب مراكب اعدائى ولايطعم مطاعم اعدائي فيكون اعدائي كماهم اعدائي .والله تعالى اعلم

ترجمة: الله تعالى يوه پيغمبرته وحی وکړه چې خپل قوم ته ووايه: چې زماددښمن داوسيدو سيمي ته به نه ورځئ ،زماددښمن دلباس اوجامو په څيربه جامي نه په غاړه کوئ اوزماددښمن په سوارليوبه نه سوريږئ ، اونه به دهغوئ په ډول خوراک کوئ اوکه مودهغوئ په ډول داکارونه وکړل نو تاسوبه هم ددوئ په څيززموږ دښمنان شئ. الزواجر عن اقتراف الكبائر لابي بكر الهيثمي رحمه الله ص١١\١١ فتاوى الرحيميه ٣٣١\١٠

عَنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيد ... «أن النبي صلى الله عليه وسلم قَالَ: "إِنِّي بَرِيءٌ مِنْ كُلِّ مُسْلِمٍ مَعَ مُشْرِكٍ أَلَا لَا تَرَاءَى نَارَاهُمَا ".» وفي رواية أقَامَ مَعَ الْمُشْرِكِينَ ، وفي رواية آخر يُقِيمُ بَيْنَ أَظْهُرِ الْمُشْرِكِينَ.

رواه ابوداؤد . و الطحاوي . و النسآئي, وابن ابي شيبة, والبيهقي,

ژباړه: له خالدبن وليد رضی الله عنه څخه (ديوه اوږده حديث په ترڅ کې نقل شوي) چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل : زه له هغه مسلمان څخه بيزار يم چې له کافر سره يوځای شوی وي ، په دې خبره ځان پوهه کړئ چې مسلمان او کافربه يو د بل اور نه سره ويني . په يوه بل روايت کې داسې توري راغلي چې زه بيزاره يم دهغه مسلمان څخه چې دکفارو سره ولاړ وي .

اوزموږ دفقهې په کتابو کې مسئله داسې ذکرشوي ده

من وافقهم من المسلمين فهوفاسق لاكافر الخ بزازية على هامش الهندية ٣١١\٦

اوپه المدخل ۱۷۴\۴ کې يې دفسق لاملونه دغه لاندې څيزونه ذکر کړي دي: انه يعين اهل الکفر بذلک، وانه يترک اعانة المسلمين ، وان يتدين بغش المسلمين فينبغي للمؤمنين ان ينزه حرمة الاسلام عن هذه الرزائل الخ

وايضا في اعلاء السنن ۴۱\۱۲ لارخصة في تقويتهم على محاربة المسلمين. وقبله باسطر: والاولى للمسلم ان يحترز عن اکتساب سبب القوة لهم

قصاص بايد په څه ډول واخستل شي ؟

الاستفتاء: بعدله سلامه: موږ يوداسې کس ونيو چې دډيرو مجاهدينو په شهادت کې يې عملا لاس درلود ، اودغه کس په خپله هم په عامه اعلان کوي چې فلان او فلان يې خپله شهيدان کړي دي. نواوس قصاصا يې بايد څه ډول قتل کړو ځيني ملګري چې د شهيدانو ورښدي وايې چې موږ يې ذبحه کوو اوځيني وايې چې مو ږ يې راځړو اوځيني بيابل څه وايې : شرعي لاره کومه ده. ؟

الجواب حامدا ومصليا وبعد: دقصاص دحکم داثبات څخه وروسته بايد دغه تن په سمه طريقه سره قتل شي ،يعني په داسې طريقې قتل چې تکليف اوسختي نه وي په کې ، اونه هم مثله اونوري ناروا طريقي په کې وي پيغمبرصلى الله عليه وسلم په د ي اړه واضح ارشادفرمايلى دى: چې کله قتل کوئ نو په سمه طريقه سره يې وکړئ:

وفي شرح معانى الاثار : باب الرجل يقتل رجلا کيف يقتل: **۱۵۸\۴** عن شداد بن أوس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم { إن الله کتب الإحسان على کل شيء فإذا قتلتم فأحسنوا القتلة وإذا ذبحتم فأحسنوا الذبح وليحد أحدکم شفرته وليرح ذبيحته}.

فأمر النبي صلى الله عليه وسلم الناس بأن يحسنوا القتلة وأن يريحوا ما أحل الله لهم ذبحه من الأنعام فما أحل لهم قتله من بني آدم فهو أحرى أن يفعل به ذلک.

الى قوله:... وقد نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن صبر ذي الروح فلا ينبغي أن يصبر أحد لنهي النبي صلى الله عليه وسلم عن ذلک ولکن يقتل قتلا لا يکون معه شيء من النهي. ... أنه لا يجب للولي أن يفعل بالقاتل کما فعل ولکن يجب له أن يقتله لأن نکاحه إياه حرام عليه.

فکذلک صبره إياه فيما وصفنا حرام عليه ولکن له قتله کما يقتل من حل دمه بردة أو بغيرها .

هذا هو النظر وهو قول أبي حنيفة وأبي يوسف ومحمد رحمة الله عليهم أجمعين.

وفي التبيين : باب مايوجب القود ومالا . ۲۸۴\۱۷ ولو قطعت يده لا يموت إلا بالسراية.

وهي موهومة فلا يکون مشروعا ؛ ولأنه مثلة وقد نهى النبي صلى الله عليه وسلم عنها وقال عليه السلام { إن الله عز وجل کتب الإحسان على کل شيء فإذا قتلتم فأحسنوا القتلة ، وإذا ذبحتم فأحسنوا الذبحة وليحد أحدکم شفرته وليرح ذبيحته} فأمر النبي صلى الله عليه وسلم بأن يحسنوا القتلة وأن يريحوا ما أحل الله ذبحه من الأنعام فما ظنک بالآدمي المکرم المحترم

جنګي جنايتونه

(جنوري

سيد سعيد

د۲۰۱۳ز، کال دجنوري پر ۴مه نيټه د کندهارولايت شاوليکوټ ولسوالۍ دقريان پرکلي يرغلګرودچاپې پروخت يوتن کليوال مشهورپه(بارګزی استاذ)بېله کوم تورپوري کولوشهيد کړی دی.

دجنوري پر ۵مه نيټه يرغلګروځواکونود شپنيوعملياتوپه ترځ کي د کابل ولايت سروبي ولسوالۍ په انکول کلي باندي چاپه وهلې ،دکورونوپه تلاشي کي يې څه جنګي توکي نه دي موندلي ،مګردوه تنه ولسي هيوادوال يې شهيدان کړي اودوه تنه يې ژوبل کړي دي.

دجنوري پر۶مه نيټه نيواکګرود هلمندولايت دنوزادولسوالۍ دخنجکي کاريزپه سيمه ک ي دچاپې پرمهال دوه تنه ملکي هيوادوال بنديان کړ ي دي.

دجنوري پر۷مه نيټه دکنړ ولايت مرکز اسعدآباد کي امريکايې نيواکګرودکورينوپوځيانوپه ملتياديوملکي هيوادوال پرکورپه يرغل کي دوه تنه ولسي وګړي بنديان کړي او له دغه کورڅخه يې دتلاشۍ پروخت پيسې ،دښځوګڼې اونورقيمتي شيان وړي دي.

دجنوري پر ۸مه نیټه اربکیانو دکندز د چهاردرې ولسوالۍ اخشاخ سیمه کې دیو ملکي هیوادوال په کوریرغل کړی ، یوتن ۲۵ کلن سپین ږیری اودوې ښځې یې شهیدانې کړې دي اربکیانو وروسته دغه کورتلاشي کړی اوقیمتي شیان یې ترې له ځان سره وړي دي.

دجنوري پر۸مه نیټه داروزګان ولایت دچهارچینو ولسوالۍ دګوهرګین ناوې دنوجوی په کلي کي یرغلګرو شپږتنه کلیوال بندیان کړي اودیادي شوي سیمي یوتن ځوان دیني عالم (مولوي شیرمحمد)یې شهید کړ ی دی.

دجنوري پر۹مه نیته یرغلګرود هرات ولایت دشینډنډولسوالۍ دزیرکوه په سیمه ک ي چاپه وهلې ،دیادشوي کلي ملاامام اویو کلیوال یې بندیان کړي دي.

دجنوري پر ۱۰مه د هلمندولایت دګرشک ولسوالۍ دکلای ګز دریګن مانده په سیمه کې یرغلګرو دچاپې په ترخ کي یوتن ولسي وګړی اسیرکړی دی.دغه رازپرهمدې نیټه یې د تخارولایت داشکمش ولسوالۍ اړونددطاهرخان کلي کې پر یوکوردچاپې په مهال یوتن ولسي هیوادوال شهید کړی او دوه تنه یې اسیران کړي دي.

دجنوري پر۱۰مه نیته د ننګرهارولایت د خوګیاڼو ولسوالۍ کي د یرغلګرو دهاوان مرمۍ 3 ماشومان ټپیان کړي دي. اود نیمروزولایت دخاشرودولسوالۍ دکرو په سیمه ک ي یې بیا دداخلي عسکروپه ملتیاپه یوه چاپه کي دوه تنه ملکي هیوادوال شهیدان کړي اودوه تنه یې هم بندیان کړي دي.

دجنوري پر۱۳مه نیټه رسنیوخبرورکړچي: دمیدان وردګوولایت سیداباد ولسوالۍ دتنګې درې په حسن خیلو سیمه ک ي یرغلګروځواکونوپریوه جومات په هوایې برید کي ګڼ شمېرهیوادوال شهیدان اوټپیان کړل ،په خبرکي ویل شوي چي:لومړی پرمسجد بمبارشوی ،خلګ له بمبارروسته له کورونوراوتلي چي شهیدان اوژوبل له خاوروڅخه راوباسي ،خوپه دې وخت کي یوځل بیاپرجومات بمبارشوی اوبل طرفته بیاپلیوبهرنیواوکورنیوعسکروهغه کسان په نښه کړي چي له کورونوراوتلل ، په شهیدانو کې دامام ابو حنیفه رح دلیسې استاد محمدمزمل اودوه زامن یې اودقومي مشرحاجي خړدرې زامن (صبغت الله ،عبدالباسط او نیک محمد)هم شامل دي ، په دې فاجعه کي ټول اتلس تنه ولسي هیوادوال شهیدان اوتردیرشوزیات ژوبل شوي دي.

دجنوري پر ۱۴مه نیته دغزني ولایت د شلګرولسوالۍ په منارکلي کي اربکیانودولسي وګړوپرکورونویرغل کړی ،دتلاشي پرمهال یې یوسپین ږیری (حاجي مؤمن)اویوبل تن

دخالد په نامه وهلي دي ، دعيني شاهدانو په وينا چي وروسته يې له کورونو اربکيانو نغدي پيسې ، دښځو ګېڼې ورې او يو سراچه موټرېې بيولي دی.

دجنوري پر ۱۷مه نيته داخلي عسکرود شپې له خوا دپکتيا ولايت داومنه ولسوالۍ په سپينه کلي باندي چاپه وهلې ، څلور تنه ملکي هيوادوال يې بنديان کړي ، اودکورونود تلاشي پرمهال يې دولسي خلکو 8 موټرسايکلونه ، 1 موټراو 25 بورۍ جنغوزي هم له ځان سره وړي دي.

دجنوري پر ۱۷مه نيټه د فراه ولايت بالابلوک ولسوالۍ دپساؤ په کلي کې داخلي عسکرو يو ولسي وګړي چي په پټي کي يې او به لګولې ددهشکي په ډزو شهيد کړی دی.

دجنوري پر۱۸مه نيټه د هلمند ولايت دګرشک ولسوالۍ دکلای ګزپه سيمه کې دکريم داداکا په کلي کي يرغلګروديوې چاپې پرمهال دوه تنه ملکي هيوادوال بنديان کړي دي.

دجنوري پر ۱۹مه نيټه د کندهارولايت شاوليکوټ ولسوالۍ دکجورناوي په سيمه کې ديرغلګروديو تماسي ماين په چاودنه کي ديو ملکي هيوادوال (حاجي عطاء الله)دکورنۍ څلورو ماشومانو ته مرګ ژوبله واوښته ، ويل کيږي چي يرغلګرو په ځينو غرونو اوګروندو کي تماسي ماينونه غوځولي چي له امله يې په بيلو بيلو ځايونو کي ملکي خلګو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

دجنوري پر ۲۱مه نيټه د کابل ولايت سروبي ولسوالۍ داوزبين په حسن خيل کلي کي اربکيانو په دوو تنو کليوالو ډزي کړي چي له امله يې يو تن ځای په ځای شهيداوبل ژوبل شوی دی.

دجنوري پر ۲۱مه نيټه د کندزولايت مرکز اړوند کنم سيمي کي اشغالګرود چاپې پرمهال دکورونود تلاشي څخه وروسته يوتن ولسي افغان شهيد کړی اودوه کسان يې له ځان سره بنديان کړي دي.

دجنوري پر۲۱مه نيته نيوا ککګروځواکونو دکونړولايت مرکز (اسعداباد) اړونده سيمه کي ديو کليوال په کور چاپه وهلې ، دکورد تلاشي څخه وروسته يې دکور ښتن له ځان سره خپل بيس ته وړی دی.

دجنوري پر۲۱مه نيټه نيوا ککګرود ننګرهارولايت دشيرزادو ولسوالۍ دتوتو کلي کي د ولسي وګړوپر کورونو يرغل کړی ، کورونه يې تلاشي کړي اوپه اخرکي يې يوتن ملکي هيوادوال ژوبل کړی او اته تنه يې بنديان کړي دي.

دجنوري پر ۲۱مه نیټه یرغلګرو دنورستان ولایت دکامدیش ولسوالۍ په بازکل سیمه کي پرولسي وګړو بمبارکړی چي له امله یې دوه تن شهیدان شوي دي.

دجنوري پر ۲۲مه نیټه داروزګان ولایت چهارچینو ولسوالۍ دګوهرګین ناوې سیمه کي یرغلګروځواکونو دچاپې پرمهال څلورتنه ولسي وګړي بندیان کړي دي.

دجنوري پر ۲۷مه نیته یرغلګرودکاپیساولایت دتګاب ولسوالۍ دجامع مسجد خطیب (ضیاألحق) او یو قومي مشر (حاجي ممتاز) له ځان سره بندیان کړي دي. دغه رازیرغلګروپه همدې ورځ ددې ولسوالۍ دلنډاخېل په سیمه کي دچاپې پرمهال دوه تنه نورولسي وګړي هم اسیرکړي دي.

دجنوري پر۲۷مه نیټه دلوګرولایت د برکي برک ولسوالۍ مرکزته نژدې یرغلګروپوځیانودرې تنه ملکي هیوادوال چي په یوه موټرکي سپاره وواودرې واړه ورونه ووشهیدان کړي دي ،دغه پېښه دلوګرولایتي چارواکي مني اوله جزیاتوورکولو یې ډډه کوي.

دجنوري پر۳۰مه نیټه یرغلګروځواکونودکورنیوعسکروپه ملتیا د ننګرهار ولایت د خوږیانو ولسوالۍ دقیلغودمیاګان کلي کې دوه تنه بزګران شهیدان کړي او نهه تنه ولسي وګړي یې بندیان کړي دي.سیمه ییزوخلګورسنیوته ویلي چي سهارپه ګروندوکي په کاربوخت ووچي داخلي اوخارجي عسکراغلل پرخلګو یې ډزې پیل کړې چي دوه تن پکي ووژل شول اوبیاچي څوک په لاس ورغلي هغه یې له ځان سره ژوندي وړي دي.دیادي ولسوالۍ ولسوال حاجي سیدرحمن هم دغه پېښه تائیدوي .

دعیني شاهدانودوینا په اساس دجنوري پر ۳۱مه د غزني ولایت مقرولسوالۍ کي اربکیانو ددغي ولسوالۍ دمرکزي جامع مسجدامام اوخطیب (خلیفه ثناءالله) او دمل خیل دکلي ملا امام (مولوي حمیدالله) نیولي اوبندیان کړي دي ،دوی وایې نه پوهیږي چي اربکیانونوموړي ملایان ولي زنداني کړي دي.

مأخذونه:[بي بي سي راډیو ،ازادي = ،اسلامي اژانس ،پژواک = ،بینوا ،ویبپاڼه ،روهي = نن ټکی اسیا= اولراوبر=]

ذبيح الله (مجاهد)

څو شيبې له خپل ولس سره

السلام عليکم ! ـ زما پوښتنه داده چې په ځينو سيمو کې دامارت مجاهدين په جنګي حالت کې داسي پريکړې کوي چې کيداشي اشتباه پکې وشي ، لکه حد جاري کول ، سنګسار او قصاص ، په دې اړه څه ضوابط او اصول شته او که نه ؟ مهمند

وعليکم السلام ! ـ بلې داسلامی امارت په هغه لائحه کې چې دمجاهدينو درهنمايۍ لپاره تياره شوې په (۲۲) ماده کې يې راغلي (دسيمو او سيدونکو که چېرته په حقوقي او نورو خصوماتو کې دقضيې دحل په موخه مجاهدينو ته عريضه وکړه نو هر دلګۍ مشر دا حق نه لري چې دعامو خلکو په موضوعاتو کې مداخله وکړي ، البته يوازي دولايت مسئول ، دولسوالۍ مشر يا دهغه مرستيال کولای شي چې د عارض په عرض پاڼه غور وکړي او داړونده مراجعو دلارې دي لومړی دمنځګړو په توسط په سولې او مشروع جرګه په داسې ډول موضوع ورحل او فصل کړي چې له مقدس شريعت سره ټکر و نه لري او که صلح يا دمصلحينو جرګه ممکنه نه وه بيا دې دمحکمې دشتون په صورت کې محکمې ته راجع کړي او که محکمې شتون نه درلودنو په دې صورت کې دې دجيدو علماء کرامو دنظر موافق اجرأت وکړي)

دپورته حکم په اساس مجاهدين په ټولو اولسي موضوعاتو کې خصوصا دشرعي حدودو په اړه خورا محتاط دي مجاهدينو ته لارښوونه داده چې په ټولو شرعي احکامو او خصوصا په هغو موضوعاتو کې چې خورا احتياط ته اړتيا لري لکه دحدودو او قصاص مسائل بايد مجاهدين په داسي مسائلو کې هيڅ مداخله ونکړی بلکي يواځي مسئول کسان چې په لائحه کې صلاحيت ورکړل شوي هغوی موضوع محکمي يا دصلح جرګي يا بل مناسب اړخ ته راجع کولای شي ، عام مجاهدين له داسي کارونو بند دي ، په دې اړه ټول مسئولين هم بايد په خورا دقت سره ګام واخلي او خپل ټول کړه وړه داسلامی امارت دلائحې دحکمونو مطابق عيار کړي.

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ! ـ زما سوال دادی چې په دا وروستیو کې دسولې په اړه ډنډورې ډیرې شوي دي ، آیا امارت دچاسره سوله کوي خصوصا دکابل له حکومت سره او که نه ؟ که یې نه کوی وجه یې څه کیدای شي او دا دومره تبلیغات بیا ولې کیږي ؟ محمد حلیم

وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته !ـ تاسو په پوهیږئ چې دښمن لکه څومره چې په تیزي اوقوت سره زموږ پسې په نظامي ډګرکې ډیر مصارف کوي او هر راز وسله او وسیله یې کارولې ده ، همدا راز په تبلیغاتي ډګر کې هم غواړې دځینو مسائلونه دمجاهدینو دعزم په کمزوري کولو کې کار واخلي ، خو موږ په خپلو مجاهدینو باندي باور لرو چې هیڅکه به هم دچا تر تأثیر لاندي نه راځي او نه به هم په خپلو هغو آزمویل شوو مشرانو باندي بدګمانه کیږي چې دا 18 کاله یې دپوره میړاني ، شجاعت ، غیرت ، په شریعت دالتزام ، پابندۍ او تقوا په ډګرونو کې الحمد لله خورا ښه امتحان ورکړی ، زموږ جهاد دسپیڅلي هدف لپاره ده چې هغه په اسلامي هیواد افغانستان کې یو واقعا سوچه او ریښتونی شرعي نظام ټینګول دي ، موږ ترهغو چې ټول یرغلګر له افغانستانه وتلي نه وی ترهغو به خپله وسله په اوږه ساتو او له هغه وروسته به هم هغه څه کوو چې شریعت یې راته وایي اوملت ، شهیدانو او مجاهدینو مویې آرمان درلود ، تاسو پوهیږئ چې دکابل رژیم یو بي واکه او په پردو متو ولاړ حکومت ده چې هیڅ اسلامي او افغاني تشخص نه لري ، افغانان هیڅکه هم په ځان هغه قانون او نظام نشي منلی چې طرحه یې دیرغلګرو لخوا دیرغل په مهال ورکړل شوي او له یوې لسیزې نه زیات دخپلو خلکو ، دین او هیواد په خلاف دکفر ملاتړی وو او په هرجنایت کې ورسره شریک وو ، نو هیله کوو چې هیوادوال مو ددښمن په تبلیغاتو تیر نه ووځي ، که له چاسره خدای مکړه مجاهدینو معامله کولای په هغه زمانه کې به یي کړې وه چې حاکمیت یې په لاس کې وو او کولای شوای دمعاملو دلارې یو څه وخت نجات ومومي ، خو څرنګ چې اوس زموږ قرباني څوچنده زیاتي شوی ، مجاهدینو مو دسر ، وینو ، هډوکو او غوښو په قیمت سره دشرعی آرمان نه دفاع وکړه ، په باور سره باید ټول دوستان او دښمنان واوري چې کله به هم له خپل اسلامي هوډ او آرمان نه تیر نشو او ټوله نړۍ باید په دې اړه دامارت موقف په دقت سره درک کړي او له موږ نه یواځې دهغه څه طمع وکړي چې شریعت مو یې راته ښودنه کوي اوبس.

مجاهد صیب زما سلامونه او نیکې هیلې قبولې کړه !ـ پوښتنه مې داده چې په راتلونکي کال کې به دمجاهدینو علمیات څرنګه وی او ډیربه څوک ترهدف لاندي نیسې ، په داسي حال کې چې خارجي ځواکونه خو له افغانستانه وځي ؟ داؤد

وعلیکم السلام ! ۔ ښکاره خبره ده چې په راتلونکي کال به ان شاءالله هم مجاهدین او هم ټول ملت دې ټکي ته ډیر متوجه وي چې دښمن د تیښتې په حال کې هم خپل سر او مال سلامت یو نسي ، په دې اړه ډیر ښه نظامي پروګرامونه تر لاس لاندې دي او ټول مجاهدین به هڅه وکړي چې کفار د تیښتې په مهال ښه وځپي ، همدا راز به د دښمن لوي مراکزهم آرام ته نه پریښودل کیږي ، د دښمن په صف کې د ننه به عملیاتو ته ډیره توجه کیږي چې تیر کال یې ډیره ښه نتیجه ورکړې ده ، همدا راز به د دښمن کاروانونه او د تګ راتګ ټول ځایونه به ان شاءالله تربرید او ګواښ لاندې وي ، بل پلو کورنیو اجیرانو هم که د دعوت او ارشاد ، جلب او جذب د کمیسیون د لاري له موږ سره اړیکې ټینګې کړی نو بیا هغو ته به دامن زمینه مساعده وي ، سر او مال به یې محفوظ وی او که چیرې لاهم خپلې مزدورۍ ته ادامه ورکړي او د خپلو خلکو او هیواد په ضد د دښمن په صف کې پاتې شي نو د هغو د ځپلو لپاره هم خورا ښه او ګټور پروګرامونه تر کار لاندې دي چې د راتلونکي پسرلي نه وروسته به یې ټول شاهدان یو ، ان شاءالله.

زما سلامونه دې مجاهد صیب او بیا ټولو مجاهدینو ته ورسیږي ! ۔ زما په زړه کې دا تشویش ده چې موږ خو ګورو چې مجاهدینو او د امارت مشرانو د جګړې او جهاد په ډګر کې ډیرې خوارۍ وایستې او هر راز قرباني یې ورکړه ، خو کله چې دښمن مات شي نو خدای مکړه چې د جهاد آرمانونه ، ځینو مصلحتونو او ناسمو پالیسیو قرباني نشي او د اسلامي نظام مخه ونه نیسي ، که په دې اړه لږ اطمینان راکړئ ؟ محمد عظیم جاهد

وعلیکم السلام ! ۔ ستاسو تشویش او پوښتنه بالکل پرځای ده ، خو په خپلو مشرانو کلک اعتماد او باور زموږ او تاسو د کامیابۍ لاره ده ، تاسو پوهیږي چې واقعا زموږ د شهیدانو آرمانونه او زموږ د فرد فرد مجاهد هیله هغه سوچه اسلامی حاکمیت ده ، اسلامی نظام که نه وي نو بیا موږ نه آرام غواړو او نه هم سوله ، دا اوس مو چې خپل آرام ژوند نا آرامه کړی او هرساعت د مرګ او تهدید د ګواښ سره لاس او ګریوان یو دا ټول د شرعي نظام لپاره دي ، مجاهدین او ټول هیوادوال مو دې له دې ناحیې نه بالکل مطمئن ووسي څو مره چې زه کولای شم د امارت په نمایندګۍ اطمینان درکړم هغه دا ده چې موږ به په هر حال کې د خدای تعالی رضا لټو او خپل کوښښ به جاري ساتو ، ورستی بری او نه بری دا زموږ د اختیار کار نه ده بلکې دا به الله تعالی راکوي ، خو صبر ، استقامت ، ثبات او په خپل شرعي موقف باندې ټینګ پاتې کیدل زموږ د واک خبره ده او ان شاءالله دا لار به د اسلامی امارت فرد فرد مشر او کشر مجاهد پالي او خپل رب نه په دې لاره کې د لا ډیر توفیق او کمک غوښتونکي یو ، هیوادوال او مجاهدین مو دې هم د دې آرمان د پوره کیدو لپاره تل د الله تعالی دربار ته لاس په دعا ووسي. مننه

شهيدې قافلې

شهيد قاري محمدحسن رحمة الله تعالى عليه
لنډ ژوند ليك

شهيد قاري محمد حسن ، د مولوي بهادرصيب زوي د ندامحمد لمسی وو ،نومړې د عليزو له ټبر سره تړاو درلود ، په ۱۳۹۴ هجري قمري کال کې يې د هرات ولايت د شنډنډ ولسوالۍ د عزيزآباد په کلې کي همدې فاني نړۍ ته سترګې راوغړولي.

قاري محمد حسن د بهترينو اخلاقو او ښه فصاحت يې د هر ليدونکي توجه او مينه جلب کړې وه. ديني زده کړې يې د سيمې په مساجدو او مدارسو کي ترسره کړې، له دې سره سره يې د قرآن کريم زده کړې ته ډيره توجه وه ،ديني زده کړې که يې څه هم نيمګړي پاتې سوې خو د قرآنکريم تکړه قاري وو.

پرګران هيواد د صليبي يرغل په مهال د دښمن له لوري ژوندی ونيول سو ، او شپږ مياشتې يې په هرات کي په بند کي تيري کړي. پر صليبي يرغل لا ډيري ورځې نه وي تيري چي بيرته يې ټوپک ته لاس کړ او د دښمن وړاندي د مبارزې په ميدان کي له ټينګ عزم سره ودرېد ، په دې وروستيو کي د اسلامي امارت د مشرتابه له لوري د هرات د شنډنډ ولسوالۍ لپاره د ولسوال په توګه مقرر سو ، تردې چي په شهادت ورسيد.

د ۱۴۳۳ هق کال د ۱۱ مياشتې ۱۱ نيټه او د جمعې ورځ وه، چي د اسلامي امارت يوټاکلی کميسون نومړې ولسوالۍ ته د هيأت په شکل تللی وو ، هلته يې اولسي خلک وليدل ، شکايتونو او د هغوي نيکې مشورې يې واورېدې ، مازيګرته غونډه پاي ته ورسيده، شهيد قاري محمد حسن ، له راغلو ميلمنو (مولوي خدايداد ، ملاعبدالقيوم اخند ، ملاسلطان محمد

اخند او مولوي عبدالوهاب صاحب) سره يوځاي له همدې مجبورآباد کلي څخه ووتل، خو دوي لا ليري نه وو تللي چي د صليبي يرغلګرو د طيارو له لوري وويشتل شول، ټول ځاي پرځاي په شهادت ورسيدل، روح دي يي ښاد او ياد دې تل وي. اناللہ و انااليه راجعون

پرمېنه يي يوازي ،يو زوي او څلور لوڼې پاتي دي، مور او پلار يي هم دواړه ژوندي دي

شهيد ملامحمدنعيم ژوند ليك

شهيد ملامحمدنعيم د محمد پيروز زوی چ ې په ملنګ يې شهرت درلود د ميدان وردګ ولايت د سيداباد ولسوالۍ دباغک دکلی اوسيدونکی وو ، په کال **۱۳۵۷** کې يې د همدې کلي په يوه ديندار ه کورنۍ کې دنياته سترګې وغړولې.

له معمول سره سم يې لومړنۍ زده کړې دمسجد له امام څخه شروع ، وروسته يې د خپل ولايت په مختلفو مدارسوکي زدکړو ته ادامه ورکړه ، خو کله چې د طالبانو اسلامی تحريک د فساد پر ضد پيل شو ، نوموړی لومړنی کس وو چې خپلې جهادي ج ذ بې اړکړ ترڅو مخکې له دې چې دطالبانوتحريک ميدان ښارته را ورسيږي د غزنې مقر ته په جهاد ک ي د ګډون لپاره ولاړ اوله هغې ورځې ېې وسلوالې مبارزې ته ادامه ورکړه او زياتره وخت به د ملګرو د مشر په صفت د جهاد په ډګر کي حاضر وو ، تردې چ ې د تقدير فيصله وه په۱۳۹۱/۷/۴ تاريخ د وردګ ولايت د سيداباد ولسوالی د مهروکلی ته څيرمه د صليبي اشغالګرو د طيارو لخوا په يو ناڅاپي بريدکي په شهادت ورسيد ،روح دي يې ښاد او ياددي يې تل وي انا للہ و انا اليه راجعون

ياده دي وي چي: ملانعيم يوخاکسار ، جرير او با احساسه انسان وو ، تل به يې په خپل ظريفانه طبيعت د مجاهدينو ستړياوې اوغمونه له مېنځه وړل.

شهيد الحاج ملا خير الرحمن (مصلح)

شهيد ملا خير الرحمن (مصلح) د نورستان ولايت د وانت ولسوالی د ژنجيگل د کلي اوسيدونکی وو.

نوموړی د دينی علومو د زده کړې په موخه گاونډي هيواد پاکستان ته ولاړ، لومړنۍ زده کړې يې د کوزې پښتونخوا په مختلفو مدارسو کې ترسره کړې او د فراغت سند يې په 15 رجب 1417 ه ق کې له سترې او مشهورې مدرسې (جامعه فاروقيه کراچۍ) څخه ترلاسه کړ.

له فراغت وروسته يې 3 کاله په دارالقران لاندهی کراچۍ کې د مدرس په حيث دنده ترسره کړه

نوموړی د خپلې سيمې د مشهور مجاهد فاروقي صيب له ډيرو نږدې ملگرو څخه ؤ، د نيکو اخلاقو مجموعه او د قوی عزم او همت خاوند ؤ، له فاروقي صاحب څخه وروسته يې په سيمه کې په خورا فعاله توگه جهادي فعاليت گړندی کړ، د مجاهدينو د تنظيم او انسجام په برخه کې يې فعاله ونډه درلوده.

دا با ايمانه مجاهد او عالم د 1388 ه ش کال د حوت په 3 نيټه د کونړ ولايت د مانړگي ولسوالۍ اړوند په مگ ليک کې د امريکايانو پر يوه قطار له بريد څخه وروسته خپل سنگر ته د ستنېدا په مهال د يو څو تنو ملگرو په شمول په شهادت ورسيد.

روح دې يې ښاد او ياد دې يې تل وي

د شهید آمر صاحب غلام علی (راشد) ژوندته لنډه کتنه :

حسن خیل

شهید آمرصاحب غلام علي (راشد) د شهید حاجي غلام جیلاني زوي د شهید عبدالمجید لمسی د وردګو ولایت د بند چک ولسوالی د خوات درې د زمانخیلو کلي په یوه دینداره کورني کې په **۱۳۵۳** ه ش کال کې دغه فاني دنیا ته سترګي وغړولې

په کال **۱۳۶۳**ل کې دحضرت عمر فاروق په لیسه کې داخل او په **۱۳۷۳**ل کې د نوموړي لیسي څخه په لوړو نمبرو کامیاب او فارغ شولو

کله چې د اسلامي امارت ځواکونه د میدان وردګو ولایت ته را ورسیدل شهید آمرصاحب خپلي اړیکي دطالبانو او دخپل شهید پلار د ملګرو سره ونیولي خپله رابطه او ورسپارلي شوي وظیفه یې شروع کړه، کله چې د اسلامي امارت ځواکونه کابل ته ننوتل شهید (راشد) ته یې د شپږمي امنیتي حوزي په دریم ماموریت کې وظیفه وسپارله ، دده د اخلاص په نتیجه کې دڅه وخت په تیریدلو د کورنیو چارو وزارت د لومړي نظام قراول مسؤلیت هم ورته وسپارل شو د څه وخت په تیریدلو د استخباراتو د لوي ریاست د لومړي نظام قراول عمومي مسؤل په نامه ونوموړل شو چې د آمریت لقب هم پدغه مسؤلیت کې ورکړل شو ، په ۱۳۸۸ کال کي د کابل ولایت د خیرخاني میني د استخباراتو د **۱۵** حوزي مسؤلیت ورته وسپارل شو چې د صلیبي یرغلګرو تر راتګ پوري د کابل د سقوط تر آخریني شیبي پوري په همدغه وظیفه پاتي شو.

په کال۱۳۸۲ل کې چې د کفارو او دهغو د غلامانو د حکومت !د جوش ورځي وي د طالب نوم خو پریږده چې د اسلام نوم هم چا نه شوی یادولي ، شهید آمرصاحب غلام علي (راشد) د څو خاصو ملګرو په ملګرتیا د کفارو په مقابل کې په مسلحانه جهاد شروع وکړله چې ﷲ

الحمد په دغه مقدس عزم کې ورسره الله تعالی ډیره مرسته وکړله او یو ټولګي دمجاهدینو یې جوړ کړلو ، یو کال لا نه وو تیر شوي چې د چک ولسوالي یې فتحه کړه او د اسلام ضعیف شوی حالت او لویدلي بیرغونه یې پدغه ولسوالي کې بیرته راپورته کړل او مجاهدین یې هم په اسلحو باندې سمبال کړل او دچک ولسوالي ټولې درې او سیمې دمجاهدو طالبانو تر اثر لاندې راغلې.

یو کال لا نه وو تیر شوی چې د چک ملګرو په شهادت سره یې د شهید مولوي عبدالله (عابد) په نوم یو نظامي محاذ جوړ کړلو چې ددغه نظامي محاذ مسؤلیت هم د شهید آمرصاحب په برخه شولو.

کفار او ګوډاګیان یې په یوه محدوده سیمه کې کلابند شول او له هر لوري دمجاهدینو ګذارونه ورباندې شروع شول او ځمکني لاره ورته بنده شوله او طالبانو مجاهدینو په ټوله ولسوالی کې خپل وزرونه وغوړول او کفار یې تر نن ورځې پورې په همغه وړوکي احاطه کې محاصره وساتل چې اوس دهغې اکمال په ډیرو لویو مصارفو سره کیږي ، او په هر ځل اکمال د یهودو ککري او ټانګونه د خوات په ښکلي دره کې په باغونو کې پراته او ترې پاتې شوي.

څرنګه چې شهید آمرصاحب دچک ولسوالي او وردګو ولایت مجاهدینو ته ډیر ګران او محبوب وه په هماغه انداز کې خداي ښبلي خپل دین او مجاهدینو ته او خپل وطن ته ډیر صادق او مهربانه وو دهر مجاهد په زړه کې یې خاص ځاي لرلو

خدای ښبلی سږ کال د اسلامي امارت لخوا د چک ولسوال تعین شولو یرغلګرو او دهغوي غلامانو د شهید آمر صاحب د شهادت او یا نیولو لپاره ۱۴ څوارلس ځلي دده په کور او کلي باندې ځمکني او هوایي چاپې ووهلې او الله پاک ورځني وساتلو.

کله چې دیهودو تلفات زیات شولو همغه وه چې سږکال د ۱۴۳۳ هق کال د ذوالحجة الحرام د میاشتي په پنځمه نیټه چې د ۱۳۹۱ کال د میزان د میاشتې له ۳۰ دیرشمي نیټي سره سمون لاره د یکشنبي په ورځ د ماښام په ۷ اوو بجو او لسو دقیقو د چک ولسوالي د ګوډه درې د پیوند کلي ته څیرمه د بې پیلوټه او جیټ الوتکو په درنه بمبارۍ کې د شهادت لوړ مقام ته لبیک ووایه ، انالله و انا الیه راجعون ، روح دې ښاد او یاد دې تل وي.

د شهيد آمرصاحب يو هميشني ملګرى حاجي حسيب الله (احمدي) دده ژوند يوه خاطره داسي بيانوي.

شهيد آمرصاحب د ډيرو ښو اخلاقو خاوند وو الله تعالي ډيره لورينه وربادي کړي وه، ډير زيات ترحم او صله رحمي او لوړ عزم يي درلود، په عامو مسلمانانو باندي د خپلو جهادي خدمتونو او مسؤليتونو په وخت کي ډير مهرباني او د ترحم خاوند وو، دهغوي به يي ډير عزت ساتلو او هميشه به يي د عامو خلک، علماء کرامو، مجاهدينو، سره مشوري کولي، او دهغوي همکاري به يي د اسلامي امارت خواته راګرځوله، په مجاهدينو باندي ډير زيات ګران وو ځکه چې هميشه به د مجاهدينو ترمخ وو، په ټولو نظامي عملياتو، تعروضونو او کمينونو کې به د ټولو مجاهدينو تر مخ روان وو، د مجاهدينو څخه به نه جدا کيدلو او نه به يې خپل ځان ته ترجيع ورکوله چي زه يو مسؤل يم.

مونږ دده ترمشري لاندې د کرزي د غلام حکومت د راتګ څخه دوه کاله وروسته د چک په ولسوالي عمليات وکړل چې د الله تعالي په مرسته ټوله ولسوالي مجاهدينو فتحه د اسلامي امارت بيرغ پري ورپول شو، او مجاهدينو ټول وسايل او سامانونه د ځان سره غنيمت راوړل، د عملياتو په سبا ورځ ټول خلک حيران وو او چا داسي فکر نه کولو چي دغه عمليات به مجاهدينو کړي وي، د دغه عملياتو لپاره د پخوا څخه کومه آمادګي نه وه نيول شوي.

د چک په ولسوالۍ باندې دغه عمليات چې کله شروع کيدل يوه عجيبه صحنه وه، مازديګر څلور بجي وي چي ماته يې خبر راکړو چې ماښام ته د ملګرو سره د زمانخيلو کلي ته ځان راورسوه، د ماسخوتن (۸) بجي وي چي له نورملګرو سره زمانخيلو ته ورغلم مجاهدين په ډير کم تعداد سره وو خو د الله تعالي نصرت او کاميابي ډيره وه، د زمانخيلو د کلي څخه مو حرکت وکړو د يو سراچه موټر په همکاري ټول ملګري د بمبايو په کلي کې ورته انتظار وو، خو د پنځلسم مياشتي سپوږمي وه، ما آمر صاحب ته وويل چي څو ورځې به مو دغه عمليات معطل کړي وو ځکه چې د پنځلسمي سپوږمي دی هسي نه چي دغه کار مو نتيجه ورنکړي، آمرصاحب راته وويل چي نه په الله جل جلاله قسم که يي نن پريږدم، د الله تعالي نه به نصرت غواړو او بس دوعاوي کوی، ما چې د آمرصاحب جهادي جذبه او قوي عزم او غيرت وليدلو نو زه هک او پک ورته حيران شوم، کله چې د بمبايو د کلي سره له نورو مجاهدينو سره يو ځاي

شولو نو موټر مو همدلته نيژدي د هديري سره ودرولو مونږ ټول سره جمع کښيناستلو يو ملګري چې اوس شهيد شوي دي ماورته وويل چې يو آيت ووايه او دوعا وکړه ، هغه د قرآن کريم سورت وويلو او دعايي وکړه عجيبه يوه صحنه وه ، دغه د خوات دره هسي هم يوه ښکلا لري عجيبه يوه خوشبويي ترراوتله ، ددغي درې څخه ، آمرصاحب ملګري تقسيم کړل له ما سره يې خپل ملګري او شهيد مولوي صاحب برهان الله او شهيد ملا رحمت الله ملګري کړل اووی ويل چې دولسوالي دښي طرفه لوړي پوستي ته ځان ورسوي چې کله مونږ په ولسوالی کار شروع کړو نو تاسو به هم کار شروع کوي ، دری ملګري يي دولسوالي بل طرف ته وليږل او هغوي ته يې هم وظيفه ورکړه چې کله مونږ په ولسوالي کار شروع کړو بيا عسکر ستاسي خواته درځي او هغه به نيسي په دغه صحنه کې آمرصاحب په ډير ميړانه او غيرت سره نورو ملګرو ته آواز وکړو چې په ما پسي راځي خپله آمرصاحب راکټ په اوږو کړو او ملګرو مرمي ورپسي واخيستي او دولسوالي د امنيه قومنداني په طرف روان شول چې د ټولو ملګرو ترمخ روان وو ، ما په دغه صحنه کې ورته وويل چې آمرصاحب دغه راکټ يوبل ملګري ته ورکړه آمرصاحب په ځواب کې راته وويل چې زه خو دلوح محفوظ څخه نه يم راغلي او نه تر نورو مجاهدينو ښه ځوان يم همغه وو چې په ولسوالي کار شروع شو ټوله ولسوالي فتح شوه مجاهدينو ته هيڅ تاوان هم ونه رسيدلو ، دوي څخه غنيمتونه دوه پيکاوي، دوه راکټ ۱۲ ميله کلاشينکوف او يوه پايه لويه مخابره او پنځه وړي مخابري يوه تومانچه او نور سامان الات غنيمت شول او د اسلامي امارت بيرغ په چک ولسوالي ودرول شو...

همداسې په نورو ځايونو کې هم يهودو ډيري چاپي ووهلي او حتی چې ډير سخت تکليف به وو خو بيا هم آمرصاحب دمجاهدينو نه جلاکيدلو که به په شپو شپو باندې بي خوبه هم وو خو دملګرو سره به يو ځاي وو او هميشه به يي ويل چې زه دملګرو څخه کومه برتري نلرم (الله جل جلاله دې شهادت قبول اولوړې درجې دې نصيب وګرځي) امين

حضرت ابودرداء رضي الله عنه

په تیر پسي

ترتیب: مولوي میرزامحمد شکیب

ای دمشقیانو! زما له مینې او زما د نصیحت له اورېدلو څخه څه شئ ایسار کړي یاست، زه له تاسو څخه د څه شئ غوښتنه نه کوم، خیر ستاسو غواړم او اجر مې پر بل چادی، ولې زه وینم چې ستاسو علماء مري او ناپوهان موزده کړې نه کوي؟!

زه وینم چې تاسو هغه څه ته توجه کړې چې خدای جل جلاله یې پخپله تکفل کړی او هغه څه مو پرې ایښي چې هغه امر درته کړی؟! زه ولې تاسو وینم چې هغه څه راغونډوئ چې خورئ یې نه!!

ودانۍ جوړوئ او په کښې اوسېږئ!!

د هغو امیدو فکرونه کوئ چې په لاس نه درځي!!

تر تاسو وړاندې نورو قومونو هم مالونه جمعه کړي، امیدونه یې ورته ساتلي، ډېر ژر د دوی راغونډ شوي مالونه تاواني شول...

امیدونه یې تاواني شول...

کورونه یې قبرونه شول...

ای دمشقیانو! هماغه وو عادیانو مځکې له مالو او اولادو ډکې کړې... نن له ما څخه د عادیانو میراث څوک په دوه درهم اخلي؟ خلګو داسې وژړل آن چې ژړا یې د مسجد له بهره واورېدله شوه.

له دې ورځې وروسته د خلکو مجالسو ته په دمشق کې ته راته، د دمشق په کوڅو کې ګرځیده، سوال کوونکي ته به یې ځواب ور کاوه، ناپوهو ته به یې علم ورزده کاوو، غافل به یې بیداراوه، هر فرصت به یې غنیمت ګڼی او له هره مناسبته به ګټه اخیستله.

نومړی یوه ورځ پر یوه ډله تیریده ، هغوي پر یوه کس راغونډ وو واهه یي ، ښکنځل یي ورته کول ، دی ورغی او ورته ویي ویل : څه خبره ده ؟!!

دوئ ورته وویل : داسړی په یوه ستره ګناه اخته شوی.

ده ورته وویل : تاسو راته ووایاست که چیري دی په څاه کي لویدلی وای تاسو نه ورڅخه کیښ؟

دوئ وویل : هو! ضرور مو رایسته.

ده وویل : ښکنځل مه ورته کوئ ، وهئ یي مه بلکې وعظ ورته وکړئ او پوه یي کړئ ، پر دې خبره د خدای ﷻ حمد أداء کړئ چي تاسو یي د دې ګناه له لوېدلو څخه ساتلي یاست.

دوي ورته وویل : آیا ته بغض نه ورسره کوي؟

ده وویل : زه د ده له کړو څخه کر که کوم ، چي کله هغه پریږدي بیا مي ورور دی ، هغه سړي وژړل او د توبې اعلان یي وکړ.

دا ځوان حضرت ابودرداء رضی الله عنه ته متوجه شو ورته ویي ویل : ای د رسول الله ملګریه! وصیت راته وکړه ، ده ورته وویل : ای زویه ! خدای ﷻ د پراخۍ پر وخت یاد لره، لوی خدای ﷻ به دې د تنګۍ په وخت کي یاد او ښاد ساتي.

زویه ! عالم ، متعلم یا اوریدونکی جوړ شه څلورم مه جوړیږه هغه هلاکت دی.

زویه! هرو مرو مسجد باید ستاکور وي ځکه ماله رسول الله ﷺ څخه اوریدلي چي ویل یي : مسجد د هر دیندار ه سړي کور وي، د چاچي مسجد کور وي د هغه خدای ﷻ د خوښۍ، پراخۍ او پر پل صراط د خدای ﷻ د رضوان لور ته د پوري وتلو ضامن دی.

هغه ډله ځوانان د لاري پر سر کښیناستل خبري اتري یي سره کولې او تیریدونکو ته یي کتل ، نومړي مخ ورته راواړاوه او ورته ویي ویل : ای زامنو! د مسلمان سړي د ناستي ځاي خپل کور وي په هغه کي خپل ځان او نظر له خلګو خوندي کوي ، پام ، په کوڅو کي له ناستي څخه ځان وژغورئ ځکه دا ناسته مو خوشي او ناوړه عادت کوي.

ابودرداء رضی الله تعالی عنه لا په دمشق کي وو چي ده او درداء ته معاویه بن ابي سفیان مر که راولیږله او له نومړي څخه یي درداء د خپل زوي لپاره وغوښتله ، خو ده له دې څخه انکار وکړ چي هغه ته یي په نکاح ور کړي بلکه نومړي د عامو مسلمانانو یو ځوان ته ور کړه چي د ده د هغه دینداري او اخلاق خوښ شوي وو، داخبره په خلکو کي خوره شوه ، خلک به ږغیدل ، د ابو درداء لور ته یزید بن معاویه مر که وکړه خو د دې پلار ونه منله او د عامو مسلمانانو له ډلې یي یو تن ته ور کړه.

یو پوښتونکي له ابودرداء څخه د دې لامل پوښتنه وکړه، ده ورته وویل: ما په دې کار کې د درداء ګټه لیده ځکه مې وکړ.

هغه ورته وویل: هغه څنګه؟

ده وویل: تاسو د درداء په اړه څه ګمان کوئ چې د چوپړ لپاره یې خادمان مخې ته ولاړ وای، په داسې ماڼیو کې اوسېدلای چې برېښ یې نظر وړي...

په دې وخت کې به د دې دین څرنګه ګرځېدلی وای؟!

د هغه وخت په اوږدو کې چې ابودرداء په شام کې مېشت وو، امیر المؤمنین عمر بن خطاب رض یوځلې ورغی تر څو د دوئ احوال واخلي، د شپې له خوا د خپل ملګري ابودرداء د زیارت لپاره د نوموړي هستوګنځي ته ورغی، دروازه یې ورپورې وهله هغه ځنځیر او قلف نه وه، یوې داسې کوټې ته ورداخل شو چې روښنایي پکې نه وه، ابودرداء چې کله د ده ورتلل حس کړل هر کلی یې ورته ووایه او کښیناوه یې.

دواړو خبرې په داسې حال کې سره تبادله کولې چې تاریکیو هر یو له بل څخه تر خپل وزر لاندې ساتلي وو.

حضرت عمر رض د ابودرداء بالښت ته لاس وروووړ هغه د اوښ ځل ؤ، نالی ته یې لاس وروووړ هغه شګې وې... بړستنې ته یې لاس وروووړ هغه یوه داسې نرمه شړۍ وه چې د دمشق په یخ کې یې هیڅ کفایت هم نه کاوه.

حضرت عمر رض ورته وویل: خدای ﷻ دې درباندې ورحمیږي، زه پراخې درباندې راولم آیا څه شئ در ته راولیږم؟!

ابودرداء رض ورته وویل: ای عمره! هغه حدیث دې یاد دی چې موږ ته رسول الله ﷺ ووایه؟

عمر رض: کوم حدیث؟

ابودرداء رض: آیا ویې نه ویل: هر و مرو دې له دنیا څخه برخه ستاسو د یوتن دومره وي لکه د یوسپاره خرڅه؟

عمر رض: هو! ویې ویل: ابودرداء رض: نو موږ له ده وروسته څه وکړل؟

حضرت عمر رض وژړل، ابودرداء رض هم ورسره وژړل، تر هغو یې یو له بل سره ژړل چې سپېدې وربانډې وچاودېدې.

ابودرداء رض په دمشق کې پاتې وو، خلکو ته یې نصیحت او تذکره کوله، کتاب الله او حکمتونه یې تر هغو ورزده کول آن چې مرګ ورته راغی، کله چې د مرګ خوږوونیو ملګري، ورته راغلل ورته ویې ویل: له څه شئ سرټکونه کوئ؛

ده وویل: له ګناهونو.

ملګرو: څه شئ ته دې شوق کیږي؟

ابودرداء رض: د خپل خدای ﷻ بخښنې ته.

وروسته یي خپل ګیر چاپیره خلکو ته وویل: ماته د لااله الاالله محمدرسول الله، تلقین کوئ، وروسته یي ترهغو داکلمه ویله آن چي له ژوند سره یي مخه ښه وکړه.

کله چي ابودرداء رض د ځښتن جوار ته نقل وکړ عوف بن مالک اشجعي په خوب کي یوه شنه تالا ولیده چي ډیره پراخه وه ښه تکه شنه وه، د چمړې څخه یوه ستره خیمه پکښي ولاړه وه، شاوخوا یي دومره پسونه پنډ وو چي سترګو هیڅکله دومره څه نه وو لیدلي ده وپوښتل دادچا دي؟!

ورته وویل شول: د عبدالرحمن بن عوف رض دي.



عبدالرحمن بن عوف رض له هغې خیمې څخه وربان‌دي رابښکاره شي او ورته وواییي: ای ابن مالکه! دا هغه څه دي چي لوي خدای ﷻ ماته د قرآن له کبله راکړي.

که پر دغه لاره وربښکاره شي داسي څه به ووینې چي تر اوسه به سترګو نه وي لیدلي، داسي څه به واورې چي غوږو به دي تر اوسه نه وي اوریدلي، داسي څه به وومې چي په خیال کي به دي هم کله نه وي درګرځیدلي.

ده وویل: دا خداي ﷻ د ابودرداء رض لپاره مهیا کړي، ځکه نوموړي له ځانه دنیا په دواړو لاسونو او سینه پوري وهله.

له (الصورمن حیاة الصحابة) نومي کتاب څخه

دانشگاه مسیحی کابل

American University

مولوی عبدالهادی (مجاهد)

پس منظر

غربیها از آغاز اسلام تاکنون همواره تلاش نموده اند تا کشورهای اسلامی راتحت تسلط خود درآورند، وحاکمیت اسلام را از بین ببرند. بمقصد رسیدن به همین هدف جنگهای صلیبی رابراه انداخته، وبه بهانهٔ تسخیر (القدس) چند صد سال مسلسل به جمع آوری لشکر پرداختند، ودر عالم اسلام صدها هزار مسلمان رابه قتل رسانیدند، امابه هدف شان دست نیافتند، چنانچه (گاردنر) مشهور ترین منصرین غرب درافریقای اسلامی میگوید:

(جنگهای صلیبی نتوانست (القدس) را برای همیشه از تسلط مسلمانان خارج سازد ودر قلب جهان اسلام یک دولت مسیحی را تأسیس نماید).

نامبرده اضافه می کند:

(جنگهای صلیبی نسبت به تسخیر القدس، بیشتر به مقصداز بین بردن اسلام راه اندازی شده بودند).

همین جنگهای صلیبی بعدها شکل جنگهای استعماری را بخود گرفت که ظاهراً اهداف امپریالیستی واقتصادی داشت، که درنتیجهٔ آن تقریباً همهٔ عالم اسلام را تحت سیطرهٔ خویش درآورد، ومسلمانان رابرای مدت طولانی محکوم نگهداشت، وشریعت را از زندگی اجتماعی وسیاسی مردم جبراً دورساخت، اگرچه در دلهای مردم جاداشت.

اما در آغاز قرن بیستم زمانیکه در نتیجهٔ جد وجهد حرکتهای آزادی خواه گلیم استعمار اروپایی شروع به جمع شدن نمود، انگلیسها نقش استعماری خودرامخصوصا بعداز جنگ

جهانی دوم به امریکا سپردند، زیرا ستارهٔ بخت آنها روزبه روز درحال افول وزوال، وستارهٔ امریکا در حال صعود بود.

امریکاییها که ازمشکلات دوران حاکمیت استعماری اروپاییان درس عبرت گرفته بودند برای تسخیر عالم اسلام یک طریقه واستراتیژی جدیدی راوضع نمودند، که اساسش برکوششهای کلیسا وتعلیم استوار بود.

امریکا مبلغین مسیحی را وظیفه داد تا در کشورهای اسلامی که تا آنزمال تحت استعمار اروپاییها قرار داشتند از طریق تأسیس مکاتب، کالج ها، ودانشگاه هایک نسل نوینی را تربیه کنند که افرادش تنها به نام مسلمان باشند، ودر واقعیت هیچ همدردی با اسلام ومسلمانان نداشته باشند. دین، فکر، اخلاق، فرهنگ وشیوهٔ زندگی شان امریکایی باشد، تاافراد همین نسل نوین بعد از فراغت شان امورکشورها را بدست بگیرند. واین بار مستعمره نگهداشتن کشورهای اسلامی از طریق Westernization (غربی سازی) آنها دوام یابد.

کلیسادرکشورهای اسلامی به ایجاد ادارات ومراکز تعلیمی اقدام کرد که درحقیقت برای تحقق اهداف جنگهای استعماری صلیبی به مثابه یک جبهٔ جنگ بودند، اما در ظاهر شعارهای (تعلیم)، (انسانیت) و(ترحم) را بلند میکردند.

لطفی لیفونیان منصّر ارمنی الاصل میگوید: (زمانیکه کشورهای اروپایی درجنگهای صلیبی شکست خوردند، خواستند برضد مسلمانان جنگ دیگری را از طریق تعلیم وتبلیغ راه اندازی کنند، واین بارکلیساها، مبلغین مسیحی، مکاتب، دانشگاه ها وشفاخانه ها را به کار گماشتند، وهزارها تن از مبلغین مسیحی رادرجهان اسلام پراگنده نمودند).

این استراتیژی امریکا بسیار مؤثر واقع شد. زیرا این بارنه تنها مردم درکشورهای اسلامی از آنها نفرت نمیکردند، بلکه مردم فرزندان خود راباقبول مصارف مالی گزاف دراختیار آنها به منظور آموزش و تعلیم گذاشتند، وآیندهٔ نسل جدید راخودبه تبشیریهای مسیحی (تبلیغی های مسیحی) سپردند.

مسیحیت در پردهٔ تعلیم

زمانیکه منصرین امریکایی مسیحی پروتستانت درجهان اسلام ازمراکش الی اندونیزیا پراگنده شدند مشاهده نمودند که درینجا مردم به قبول مسیحیت آماده نیستند، بلکه به سبب ظلم استعمار اروپایی نفرت مسلمانان در برابر مسیحیت نسبت به گذشته بیشترگردیده، وبعضی از ساحاتی که تا آنزمان تحت کنترول خلافت عثمانی قرار داشتند باپخش ونشر

مسیحیت مخالفت می نمایند. پس همان بود که مبلغین مسیحی امریکایی برای فعالیت مسیحی خود دواقدام مهم ذیل را انجام دادند.

اول: مبلغین مسیحی فعالیتهای خودرا در مناطقی چون لبنان ومصر آغازکردندکه اقلیتهای مسیحی از قبل درآنجا موجود بودند.آنها این ساحات را منحیث مراکزی برای انجام فعالیت هایشان درمناطق دیگر به بهانهٔ اینکه گویا آنهابه مسیحیان محلی کار میکنند، وکسی حق اعتراض برآنهارا ندارد اتخاذ نمودند.

دوم:آنها پروژه های خود را در شکل بهترین مراکز تعلیمی که براساس معیارهای بسیار عالی استوار بودندآغاز کردند. نتیجهٔ این کارآن شد که بعد از گذشت یک مدتی مسلمانان ثروتمند منطقه نیز فرزندان شانرا درین مراکز شامل نمودند، وبا گذشت زمان وکوششهای مستمر، ودر نتیجهٔ کسب نفوذ وتأثیر برحکام محلی بالآخره امریکا این مکاتب را به مراکز مهم تحصیلات عالی مبدل کرد که بعضی ازآنها بعدها به شکل دانشگاه های امریکایی American Universities ظهورکردندکه درین بحث معرفی عدهٔ ازآنها خدمت خوانندگان تقدیم میگردد.

انتخاب مراکز مهم جهان اسلام برای تأسیس دانشگاه های امریکایی

منصرین امریکایی برای تأسیس دانشگاه ها آن مناطقی را انتخاب نموده اندکه از یکطرف درآنجابادست باز فعالیت بتوانند، واز جانب دیگر مناطق متذکره از لحاظ سیاسی، اجتماعی، اقتصادی، ودینی بر مناطق دیگر یکه دراطراف آن موقعیت دارند تأثیر داشته باشند، تا همین تأثیر درنشر فعالیتهای امریکایی نیز ممد واقع گردد.

مؤثرترین مناطق مستهدف برای این پلان شهر های (بیروت)، (قاهره)، (استانبول) واکنون (کابل) تعین گردیدند، که درمورد اهمیت هر یکی ازین مناطق چند سطری به گونهٔ ذیل تقدیم میگردند:

بیروت لبنان: برای تأسیس دانشگاه امریکایی لبنان از آنجهت مهم بودکه از یکطرف درساحل بحیرهٔ مدیترانه در سمت مقابل بااروپا موقعیت دارد، وامریکا ازطریق بحر مستقیماً به آن راه دارد، واز جانب دیگر در بیروت اقلیتهای نامسلمانی چون (مسیحیان مارون)، (درزیها)، (ارمنیها) و(اسماعیلیها) سکونت داشتند که وجودآنهابرای فعالیتهای امریکایی زمینهٔ مساعدی را مهیامی نمود. ومهمتراینکه مناطق سوریه، عراق، فلسطین، اردن وکشورهای جزیرهٔ عرب به شکل مؤثر از لبنان تحت شعاع قرار میگرفت.

قاهرهٔ مصر :کشور مصرکه از یکطرف درکنار بحیرهٔ مدیترانه موقعیت دارد واز جانب دیگر حیثیت پل رامیان براعظمهای آسیا وافریقا داشته ،وباداشتن دانشگاه (الأزهر) وداشتن تمدن تاریخی وسیاسی حیثیت یک مرکز علمی وفرهنگی رابرای همهٔ افریقای شمالی ومرکزی بخود گرفته است. ودرکنار این دراواخر قرن نوزدهم واوائل قرن بیستم خانواده حاکم (محمدعلی) که غرب راقبلهٔ آمال خودگردانیده بود ،ومصر را از خلافت عثمانی جداساخته بود میخواست همه چیز رادرمصر مطابق فرهنگ غرب عیار نماید.

درکنارهمهٔ اینها مسیحیهای مصر (قبطیها) نیز یکبار در عهداستعمارفرانسه وسپس در زمان استعمار انگلس رشد قابل ملاحظهٔ نموده بودند. همهٔ این اسباب برای (منصرین) امریکایی زمینهٔ پخش ونشر مسیحیت وبراه انداختن پروسهٔ تعلیم به شیوهٔ غربی،وباز کردن دانشگاه امریکایی را مساعد ساخته بود.

استانبول ترکیه: شهراستانبول که تقریباً پنج قرن مرکز خلافت اسلامی درترکیه بود، وبه سبب وجودمساجد زیبادرآن دردنیا بنام (شهر مناره ها) یاد می گردید ،و عثمانیها خلافت عظیمی را از همانجا اداره میکرد ند وبه هر طرف فتوحات داشتند ،به حدی که در اروپای شرقی نیز ساحات زیادی رافتح نموده بودند. ولی دراخیر دراثرضعف داخلی وتوطئه های یهودی ومسیحی به زوال روبرو گردیدند. مرکز این خلافت (شهر استانبول)نیز برای منصرین امریکایی بمنظور فعالیتهای تعلیمی شان موقعیت جالبی بود. از همین جهت آنهادرآنجا نخست کالج (رابرت) را تأسیس نمودند ،که بعدها درعهد ترکیهٔ سیکولر به دانشگاه امریکایی تبدیل گردید.

کابل افغانستان: افغانستان که درطول تاریخ یک قلعهٔ مستحکم اسلام وسرزمین جهاد وفداکاریها برای اسلام بوده، ومردمش همیشه بانیروی ایمان دربرابر قوتهای بزرگ دنیا بامردانگی ومتانت ایستادگی نموده اند، وزوال قوتهای بزرگ دنیا نیز از همینجا آغاز شده است نیز دارای اهمیتی زیادی برای منصرین است.

همهٔ این رشاداتهادرسرزمین افغانها به این دلیل به عمل آمده که مردم این سر زمین برای همیشه بر ایمان، شریعت، فرهنگ اسلامی، وارزشهای ملی واخلاقی خود محکم واستوار باقیمانده اند ،ورنگ وفرهنگ بیگانگان را نپذیرفته اند .وبه همین خالص بودن وفطریت شان توانستند تادرنتیجهٔ جهاد عظیم شان چهارده صد سال بعد نیز نظام اسلامی را همرنگ نظام صدرسلام قائم نمایند.

اما این کار برای غرب ودر ر أسش امریکا که میخواهد همۀ دنیا را به بهانۀ (گلوبلایزیشن) درخُم امریکا رنگ نماید ، وهمه را تحت بیرق خود قراردهد قابل قبول نبود. به همین سبب با همراهی رفقای صلیبی اش یکجا برضد افغانستان جنگ بزرگ صلیبی را آغاز نمود ، وبا تسخیر کابل اندکی بعد بنیادیک دانشگاه امریکایی رادرین شهر گذاشت، که تفصیلات آن درصفحات بعدی بیان خواهند شد .

چرا دانشگاهای امریکایی در جهان اسلام ؟

باوجود آنکه هزاران جوان از گوشه وکنارجهان اسلام مصروف فراگرفتن تعلیمات درغرب اند ، واز محیط آنجا متاثر نیز می شوند ، پس چرابه تأسیس دانشگاهای امریکایی در جهان اسلام ضرورت افتاد ؟

جواب این پرسش رامدتها قبل مؤسس دانشگاه امریکایی بیروت **Denial Bless** درسال (۱۸۲۲م) چنین داده بود:

(تأسیس یک ادارۀ بزرگ تحصیلات عالی در لبنان از آنجهت ضروراست که آنعده جوانان جهان اسلام که در غرب ودانشگاهای امریکا تحصیلات شانرا به پایان میرسانند ، اکثریت آنها به کشورهایشان برنمیگردند تادرینجابا مبلغین امریکایی مستقیماً کمک نمایند ، بلکه همانجادرغرب به کارها ووظائف مصروف می‌گرد ند. اما برعکس آنهافارغین مکتب (سیمون کالهون) _مکتبی که درسال (۱۸۳۵م) در لبنان توسط (سیمون کالهون) تأسیس شده و بنام خودش مسمی گردید_ همه عملاً درکشورهای اسلامی درمکاتب مبلغین مسیحی بحیث استاذان، مبلغین، وپرسونل اداری مصروف کار هستند)

همین علت باعث شده تا امریکاییها و مؤسسات تعلیمی امریکا اینجادرکشورهای اسلامی ادارات تحصیلات عالی خود راتأسیس نمایند.

اهداف دانشگاهای امریکایی در جهان اسلام:

قبل ازینکه در موردانشگاهای مشهور امریکایی درجهان اسلام بحث مفصل داشته باشیم بهتر میدانم تابه شکل عمومی از اهداف ومقاصدی مختصراً یادآوی نمایم که این دانشگاهابرای رسیدن به آنها تأسیس میشوند ، وملیاردها دالر برآنها به مصرف میرسد:

هدف اول _ تسخیر قدرت سیاسی کشورهای اسلامی:

دانشگاه های امریکایی درجهان اسلام به تربیۀ شاگردان در عرصه های می پردازند که فردا آن شاگردان بتوانند در بخشهای تعلیم، سیاست، اداره، اجتماع، اقتصاد ، فرهنگ وارتش صلاحیتهای اداره وقیادت راحاصل نمایند. تا امریکا ازطریق آنهاموفق به تسخیر قدرت

سیاسی در کشورهای اسلامی گردد ،ونظام سیاسی رادرکشورهای اسلامی مطابق خواسته های غرب بر پاکند .

تاریخ وتجربه هردوثابت نموده اند که همین شاگردان منافق صفت امریکاییهادرعملیۀ از بین بردن قوانین واحکام اسلامی ماهرتر وسخت دل تر ازامریکاییها عمل میکنند.

دغزني ولايت دده يک ولسوالۍ په تاسنګ سيمه کې داجيري اردومرکزدمجاهدينوتروسلوال بريد لاندي راغی ،دبريدله امله دمرکزودانۍ تخريب شوه خودمرګ ژوبلي په اړه شواهدنه دي ترلاسه شوي. 2013-01-26

شلګرکې3 پولنډي عسکرمړه اوژول شول

د غزني ولايت په شلګرولسوالۍ کې دپولنډي عسکروپه پلې ګزمه دښخ کړل شوي ماين چاودنه وشوه، دعيني شاهدانوپه وينا چاودني 1 تن عسکر ووژه او 2 نوريې سخت ژوبل کړل2013-01-26

مقرکې دبريدپه مهال دښمن ته زيان واوښت

دغزني ولايت د مقرولسوالۍ په ګداخيل سيمه کې داجيري اردو او اربکيانوپه ګډه ګزمه دوسلوال بريدپه مهال ددښمن 1 ټانک او2 عرادې رېنجرموټرپه پوره ډول تخريب شول خو دښمن ته داوښتي مرګ ژوبلي کره شمېره نه ده څرګنده شوې. 2013-01-26

دګيروولسوالۍ ودانۍ تربريدلاندې‌راغله

دغزني ولايت دګيرو ولسوال ی په ودان ی دسپکواودرنووسلوبريدترسره شو، دبريدپه ترڅ کې ديادي ودانۍ زياته برخه زيانمنه اوپکې مېشتو عسکروته مرګ ژوبله واوښته. 2013-01-27

مقرکې اربکيانو دوه ملاامامان بنديان کړل

دغزني ولايت په مقرولسوالۍ کې ددې ولسوالۍ دمرکزي جامع مسجدامام اوخطيب خليفه ثناءالله صاحب او دمل خ ېل دکلي ملاامام مولوي حميدالله صاحب دوحشي اربکيانو له خوا بنديان شول، دخبرله مخې تردې مهاله نه ده څرګنده چې اربکيانويادامامان امريکايي عسکروته سپارلي اوکه يې په خپلوشخي زندانونو کې ساتلي دي. 2013-01-31

دګيرو ولسوالۍ ودانۍ په درنو وسلو وويشتل شوه

دغزني ولايت دګيرو ولسوالۍ په ودانۍ دهاوان او هشتاددو بريدترسره شو، دبريدله امله يادو ودانۍ زيانمنه اوپکې ميشتوعسکروته درنه مرګ ژوبله واوښته خوکره شمېره يې نه ده ترلاسه شوې 2013-01-31

پروان

شينواروکې دپوستې قومندان ووژل شو او4 عسکرټپيان شول

دپروان ولايت دشينوارو ولسوالۍ دنمک آب درې په خوله کې د ګوډګۍ ادارې دعسکروپه پوسته وسلوال بريدترسره شو، دبريدپه مهال دپوستې ودانۍ زيانمنه او دقومندان يارمحمدله وژل کېدوسره سره 4 تنه نورعسکرسخت ژوبل شول، په بريد کې دپوستې ودانۍ هم تخريب شوه. 2013-01-02

دبګرام په هوايي اډه کې دچت غورځېدو له امله 3 قرارداديان ووژل شول

دپروان ولايت دبګرام ولسوالۍ دبګرام په هوايي اډه کې دچت دغورځېدوله امله داشغالګرو عسکرو ۳ تنه قرارداديان ووژل شول او ۲ تنه نورقرارداديان سخت ژوبل شول. 2013-01-18

سياګرد کې داربکيانو قومندانان ووژل شول

دپروان ولايت دسياګرد ولسوالۍ په مرکز کې دوسلوال بريدپه مهال داربکيانو ۲ تنه قومندانان (حيات الله او وحيد) ووژل شول او۲ تنه اربکيان اويو تن پوليس سخت ژوبل شول. دمعلوماتوله مخي حيات الله دقومندان عزيزالله زوی وو، عزيزالله هم ديادي ولسوالۍ اربکيانو مشري په غاړه لرله چې کابو دوه کاله وړاندې دمجاهدينو له خوا په وسلوال بريد کې ووژل شو. 2013-01-21

دسياګرد ولسوالۍ اوسپېدونکو له سيمې نه داربکيانو د ايستلو غوښتنه وکړه

دپروان ولايت د سياګرد ولسوالۍ په مرکز کې وروسته له هغه چې داربکيانو 2 مهم قومندانان ووژل شول او3 اربکيان ټپيان شول اربکيانو په بازار کې په عامو خلکو بريدوکړ چې ګڼو دوکانونو ته يې مالي زيانونه واړول اودغه راز يې دخلکو موټران اوموټرسايکل تخريب کړل، خبروايي داربکيانو ددې وحشي عمل په ضد دسيمي اوسيدونکو درې ورځې خپل دوکانونه داحتجاج په توګه بند کړل او له سيمې نه يې داربکيانو دايستلو غوښتنه وکړه. 2013-01-24

کوه صافي کې ناچاودو توکيو ماشومان مړه او ژوبل کړل

دپروان ولايت دکوه صافي ولسوالۍ په دندکلي کې دېرغلګرو له خوا دتخليه شوي قرارګاه ترڅنګ په هغو ماشومانو ناچاودو توکيو چاودنه وشوه چې له مکتب نه دکورونو په لور روان وو، په چاودنه کې ۳ ماشومان شهيدان شول او۵ نور ټپيان شول. 2013-01-27

پکتيا

زرمت کې په ګڼمه دبريدپه مهال 5 عسکروته مرګ ژوبله واوښته

دپکتيا ولايت د زرمت ولسوالۍ په سهاکوسيمه کې دګډ دښمن په ګڼمه وسلوال بريدترسره شو، دبريد په ترڅ کې 2 تنه عسکر ووژل شول او3 نورشديد ټپيان شول. 2013-01-16

اومنه کې داخلي عسکرو 4 عاموګړي 8 موټرسایکلونه او 1 موټر له ځان سره یوړل

دپکتیاولایت داومنې ولسوالۍ په سپین کلي کې ګوډاګیو عسکرو دبې دفاع ملکي وګړو په کورونو چاپه ووهله اوپه خوار وحشت یې دکورونو تالاشي پیل کړه ،دخبر له قراره یادوعسکرو 4 تنه عام وګړي بندیان کړل اوپه دې سربېره یې 8 موټرسایکل، 1 موټراو25 بورۍ جنغوزي هم له ځان سره یووړل. 2013-01-17

ځمکنو کې په کمپاین دهاوان برید وشو

دپکتیاولایت دځمکنو ولسوالۍ مرکز ته نژدې د اشغالګرو کمپاین دهاوان په 4 مرمیو دقیق وویشتل شو، دبرید له امله دښمن ته تلفات واوښتل خوداوښتو تلفاتوپه اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي.

2013-01-23

احمدخیل کې ماین پر غلګرو واژه

دپکتیاولایت د احمدخېل ولسوالۍ په حسن خېل سیمه کې دامریکایي عسکرو موټرسایکل په ماین والوزول شول، دچاودنې له امله موټرسایکل له منځه لاړ اوپکې ناست یوتن امریکایي عسکر ځای په ځای ووژل شو.

2013-01-28

پکتیامرکز ته څېرمه داجیري اردو موټر په ماین والوت

دپکتیاولایت دمرکز ګردیز په اړونده سیمه کې داجیري اردو رېنجر موټرپه ماین والوزول شو ، چاودنې موټر په پوره ډول ویجاړ اوپکې ناستوعسکروته مرګ ژوبله واړوله . 2013-01-31

دایکندی

کجران ۲ پوستې فتح ۸ عسکر ووژل شول

ددایکندي ولایت د کجران ولسوالۍ دمشرک په سیمه کې ددښمن په پوستو وسلوال بریدونه ترسره شول، دبریدونو په مهال د دښمن ۲ پوستې په بشپړه توګه فتح او۸ تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول ، په جګړه کې مجاهدینو ددښمن دوه کلاشنکوفونه غنیمت کړل، دجګړې په مهال یوطالب زخمي اویوبل دشهادت لوړ مقام ته ورسېد ، انالله واناالیه راجعون 2013/1/16

اجرستان: ددښمن تعرضي برید په شاوتمبول شو

ددایکندي ولایت داجرستان ولسوالۍ په مربوطاتو کې له اجیرو اردو سره هغه مهال خونړۍ جګړه وشوه چې په سیمه کې یې په مجاهدینو پراخ تعرضي برید پیل کړ ، په جګړه کې دښمن ته درانه تلفات واوښتل اودتلفاتو په لیدلو سره په شاوتښتېد.2013/1/16

کجران : ۲ پوستې فتح قوماندان احمدي له ۳ ملګرو سره قتل شو

ددایکندي ولایت د کجران ولسوالۍ په مشترک سیمه کې هغه جګړه چې په ترڅ کې ۲پوستې فتحه شوې وې دریمې ورځې ته وغځېده ، خبروايي دجګړې په دریمه ورځ یوتن مشهورقوماندان (احمدي)له خپلو ۳ساتونکوسره ووژل شو او۳ تنه نورعسکر سخت ژوبل شول . 2013-01-19

ګزاب: له اجیرو دښمن سره درنه جګړه روانه ده

ددایکندي ولایت د ګزاب ولسوالۍ دتمزان په سیمه کې له اجیرو دښمن سره سخته جګړه وشوه، دجګړې په مهال درباط په سیمه کې ددښمن یوه پوسته د مجاهدینو له لوري په بشپړه توګه وسوځول شوه خو دنورو تلفاتوپه اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي .

2013-01-22

اجرستان: ددښمن 6 عسکر مړه اوژوبل شول

ددایکندي ولایت داجرستان ولسوالۍ دعباس خېلو په سیمه کې له ګوډاګیو عسکروسره سخته جګړه وشوه، دجګړې په ترڅ کې ۴ تنه اجیرعسکر سخت ژوبل او۲ تنه ځای په ځای ووژل شول ،خبرزیاتوي دوارخطادښمن په ناتار ډزو کې یوه ښځه زخمي شوه.

2013-01-25

کاپیسا

دبرید په مهال 3 اشغالګر عسکر ټپیان شول

د کاپیساولایت د تګاب ولسوالۍ په انارجوی سیمه کې اشغالګووعسکر دمجاهدینو تربریدلاندي راغلل، په برید کې 3 تنه عسکر سخت ژوبل شول اونور له سیمي نه وتښتېدل 2013-01-13.

دنجراب ولسوالۍ امر جنائي او د تروريزم امر ووژل شو

د کاپیساولایت دنجراب ولسوالۍ په افغانیه دره سیمه کې دامنیه قومنداني عسکرو په مجاهدینوچاپه ووهله چې دمجاهدینوله شدیدوسلوال مقاومت سره مخامخ شول، دخبرله قراره دجګړې په مهال جنائي امیر او د تروریزم امیر دیو تن عسکر په شمول ووژل شول او ګڼ نورعسکر ټپیان شول. 2013-01-16

اشغالګرو ښځه شهیده او ماشومان ټپیان کړل

د کاپیساولایت دتګاب ولسوالۍ په انارجوی کلي کې اشغالګروعسکرودعاموخلکوپه 4 کورنو چاپه ووهله ،اشغالګرود تالاشي له زیاتومالي زیانونو سره سره دنعیم په نامه دیو تن عام وګړي په کور کې ۲ تنه ماشومان ټپیان کړل اویوه ښځه یې په شهادت ورسوله ،اناللہ وانااليه راجعون. 2013-01-24

تازه خبر : تګاب کي دفدايي بريد له امله زغروال ټانګونه او12 امريکايي عسکر له منځه لاړل

د کاپیساولایت د تګاب ولسوالۍ په قلعه صالح سیمه کې دامریکایي عسکروپه ولاړ موټریز کاروان دیو تن قهرمان مجاهدعبدالظاهر له خواد سراچه موټرپه توسط فدايي بريدترسره شو، ددې کامیاب بریدله امله 2 زغروال امریکایي ټانګونه په مکمله توګه له منځه لاړل او12 تنه امریکایې یرغلګر عسکر یې ځای په ځای ووژل شول. 2013-01-25

تګاب کې اشغالګرو يو ملا امام او يو قومي مشر بندي کړ

د کاپیساولایت د تګاب ولسوالۍ په لږداخیل سیمه کې ښکېلاکګروعسکرودعاموخلکوپه کورونو چاپه ووهله اوپه خورا بې رحمۍ سره یې په کورنو کې تلاشي پیل کړه ، خبروایي اشغالګرود تلاشي په مهال خلکو ته درانه مالي زیانونه واړول اوله دې سره سره یې دجامع مسجد خطیب (ضیاألحق)او1 قومي مشر (حاجي ممتاز) او۲ تنه نور کلیوال له ځان سره دبندیانوپه توګه بوتلل 2013-01-27.

دحصه دو ولسوال ووژل شو

د کاپیساولایت دحصه دو ولسوالۍ په طیپشته سیمه کې ددې ولسوالۍ ولسوال متشاق سادات دمجاهدینو دیو تکتیکي بریدپه مهال ووژل شو. 2013-01-29

لغمان

علیشنګ کې په جلا پېښو کې 6 عسکروته مرګ ژوبله واوښته

دلغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ په وطن کېټوسیمه کې د ګوډاګیوعسکروپه ګزمه وسلوال برید ترسره شو، دغه راز یادي سیمي ته نژدې په جبون ډاګ سیمه کې یې په پلې ګزمه چاودنه وشوه، په چاودنه کې 3 تنوعسکروخپل ژوندله لاسه ورکړ او3 نور سخت ژوبل شول ،2013-01-01

علینګار کې پوسته فتحه او1 عسکر ووژل شو

دلغمان ولایت دعلینګار ولسوالۍ په سندرواسیمه کې دګوډاګیوعسکروپه پوسته دوسلوال بریدپه مهال دپوستې ودانۍ تخریب یو تن عسکر پکې ووژل شواونور له سیمي نه په تیښته بریالي شول2013-01-01

دلغمان په علیشنګ کې ماین 2 عسکر ووژل

دلغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ په نلوسیمه کې داجیري اردوپه رېنجرموټرو دښخ کړل شوي ماین دچاودني له امله موټر پوره ویجاړ ۲ تنه عسکرووژل شول او۲ تنه نور سخت ژوبل شول. 2013-01-01

علیشنګ کې چاودنې3 عسکر مړه او ژوبل کړل

دلغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ په جبون ډاګ سیمه کې دداخلي عسکروپه پلې ګزمه دځمکني ماین چاودنې۲ تنه عسکرووژل او1 بل یې سخت ژوبل کړ. 2013-01-01

دبادپښو لسوالۍ په ودانۍ او پوسته برید وشو

دلغمان ولايت دبادپيخ ولسوالۍ په ودانۍ او دکوترخانې په پوسته وسلوال بریدونه ترسره شول، دبریدونوله امله دښمن ته درنه مرګ ژوبله اومالي زيان واوښت خودشپې دتیارې له کبله يې په اړه پوره معلومات نه دي ترلاسه شوي. 2013-01-02

علیشنګ کې دجګړوپه مهال 17 عسکروژوندله لاسه ورکړ

دلغمان ولايت د علیشنګ ولسوالۍ په وطن کېټو، جبون ډاګ، نلو او شمش خېلوسيم وکې داجيري اردوموټریز کاروان ترسخت وسلوال برید لاندې راغی، د اوږدمهالي جګړې په مهال ۱۷ تنه داجيري اردوعسکر ووژل شول اوپه دې سربېره 13 تنه نورسخت ژوبل شول، له دې علاوه1 عراده رېنجر موټرپه بشپړه توګه ویجاړ شوااوګڼ نور تخریب شول .دجګړوپه ترځ کې ددښمن په متقابلوناتارډزوکې1 تن کليوال او2 مجاهدين دشهادت لوړمقام ته ورسېدل او3 تنه مجاهدین ټپيان شو ل خبروايي جګړه ددښمن دعسکروپه تیښته سره پای ته ورسیده. 2013-01-02

دبادپيخ ولسوالۍ په مرکزتوغندي وارشول

دلغمان ولايت دبادپيخ ولسوالۍ ودانۍ په داسې حال کې ترتوغنديزبرید لاندې راغله چې په ودانۍ اوشاوخواسيمه کې ګڼ شمېر ګوډاګي عسکرموجود وو ،دبریدله امله دښمن ته زیان اوښتی خوداوښتي زيان په اړه يې کره شواهدنه دي ترلاسه شوي2013–01–04

دلغمان ولايت امنيه قومندانۍ په توغنديو ويشتل شوه

دلغمان ولايت امنيه قومنداني له ډېرنږدې نه په يوتوغندي په دقيق ډول وويشتل شوه ،دبریدله امله دښمن ته داوښتي زيان په اړه دشپې دتیارې له کبله کره شواهدنه دي ترلاسه شوي2013-01-06.

علینګرکې په بیس دهاوان برید3 عسکرووژل

دلغمان ولايت دعلینګرولسوالۍ په بارخان باباسیمه کې دګوډاګۍ اداري دعسکرو بیس دهاوان په 10 مرمیودقیق وویشتل شو، دبریدله امله دبيس پيره دارخانه په بشپړه توګه له منځه لاړه اوپه دې سربېره 3 تنه عسکرپکې ووژل شو ل او2 شدید ټپيان شول . 2013-01-06

لغمان کې اربکیانو یوکورنه تالاشي په پلمه زیورات اونغدې پیسې یووړې

دلغمان ولايت مرکزته نږدې داحمدخېلوپه چلمټي سيمه کې اربکيان ديوکور دروازه ماته کړه اوپه کورکې دتالاشي په پلمه دروپو او ګېڼوپه لټه بوخت شول ،خبروايي اربکيانوله ياد کورنه پوره 100000 افغانۍ اودښځو ګڼ شمېر ګېڼې يو وړې ،سميزخلګ وايي يادوعسکروله کورنه حتی يو دېګ بخار او دوه کمبلي هم وړي دي. 2013-01-09

لغمان مرکزته څېرمه دچاودني له امله 3 عسکرووژل شول

دلغمان ولايت مرکزمهترلام ته نږدې په بديع ابادسيمه کې داربکيانو په پلې ګزمه دچاودني له امله ۳ تنه اربکيان ووژل شول اوګڼ نور ژوبل شول2013-01-10

علینګرکې ماین 7 ګوډاګیوعسکرژوندواخیست

دلغمان ولايت دعلينګرولسوالۍ په چينچارپله سيمه کې د ګوډاګيوعسکروپه رېنجرموټردرنه چاودنه وشوه، دچاودني له امله موټرويجاړ اوپکې ناست ۷ تنه عسکرټول ځای په ځای ووژل شول.2013-01-10

قرغيو کې دښمن2 په پوستو بریدونه شول

دلغمان ولايت دقرغيو ولسوالۍ دخيروخيلوپه اړونده سيمه کې ددښمن په2 پوستووسلوال بریدونه ترسره شول،دبریدله امله دښمن ته درنه مرګ ژوبله اومالي زيان واوښت خوداوښتي زيان په اړه تراوسه پوري دقيق معلومات نشته. 2013-01-10

قرغيو کې3 عسکرووژل شول او4 موټرو سوځول شول

دلغمان ولايت دقرغيو ولسوالۍ په خيروخېل سيمه کې داشغالګروعسکروپه کاروان وسلوال برید ترسره شو،د جګړې په ترځ کې 2 عرادې رېنجراو 2 دتېلو ټانکر موټرپه بشپړه توګه وسوځول شول اوپه دې

سربېره د کاروان 3 تنه ساتونکي عسکر ووژل شول او 4 نور شدید ټپیان شول. 2013-01-10

بادپخ په پوسته برید 2 عسکر ژوبل شول

دلغمان ولایت دپادپخ ولسوالۍ اړوند د کوترخانې په سیمه کې د دښمن په پوسته وسلوال برید ترسره شو، خبروایي د برید په مهال ۲ تنه عسکر ژوبل شول . 2013-01-10

مهترلام کې داربکیانو په ګومه برید 1 قتل بل ژوبل شو

دلغمان ولایت دمرکز مهترلام اړوند دبسرام په سیمه کې داربکیانو په پلې ګومه دوسلوال برید په مهال یو تن اربکی ځای په ځای ووژل شو او بل سخت ژوبل شو . 2013-01-10

مهترلام کې داربکیانو پوسته په هشتاد 2 وویشتل شوه

دلغمان ولایت دمرکز مهترلام اړوند کنېل په سیمه کې داربکیانو په پوسته دهشتاد2 برید ترسره شو، په برید کې دهشتاد2 څلور مرمۍ په ټاکل شوي هدف ولګېدې چې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل خو کره شمېره یې نه ده ترلاسه شوې. 2013-01-10

دلغمان په علیشنګ کې له اربکیانو نه پراخه سیمه ونیول شوه

دلغمان ولایت د علیشنګ ولسوالۍ په ګولکړي سیمه کې په مېشتو اربکیانو مجاهدینو پراخ وسلوال برید ترسره کړ، د جګړې په ترڅ کې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته او له سیمې نه په تښته بریالي شول چې په دې سره یوه پراخه سیمه دمجاهدینو ترکنټرول لاندې راغله. 2013-01-11

دپولیسو په ماموریت کې چاودنې 2 پولیس ووژل

دلغمان ولایت په مرکز کې دپولیسو په ماموریت کې د ریموټ په توسط دځای په ځای شوې ماین درنه چاودنه وشوه، دچاودنې له امله دماموریت ودانۍ تخریب 2 تنه پولیس ووژل شول او 2 نور شدید ټپیان شول. 2013-01-11

لغمان کې په پوسته برید 4 عسکر وژل شول

دلغمان ولایت دمهترلام مربوط په ابزۍ سیمه کې داربکیانو په پوسته وسلوال برید ترسره شو، دبرید په مهال دپوستې ودانۍ زیانمنه او ۴ عسکر پکې ووژل شول. 2013-01-11

لغمان مرکز ته څېرمه یوتن مجاهد 2 عسکر ووژل او 3 یې ټپیان کړل

دلغمان ولایت مرکز مهترلام ته نږدې په شیخانو سیمه کې ګوډاګیو عسکرو په یوتن مجاهد چاپه ووهله چې دمجاهد له سخت مقاومت سره مخ شول، په جګړه کې د2 تنو ګوډاګیو عسکرو په وژل کېدو سربېره 3 تنه نور شدید ټپیان شول، له درنې جګړې وروسته دګوډاګیو عسکرو په ډزو کې نوموړی مجاهد او یوه کوچنۍ لورۍ یې په شهادت ورسېدل. انالله وانااليه راجعون 2013-01-11

دولتشاه کې 1 عسکر ووژل شو

دلغمان ولایت د دولت شاه ولسوالۍ په زرکمر سیمه کې د ګوډاګیو عسکرو په ګومه وسلوال برید ترسره شو، خبرکاري په برید کې 1 تن عسکر ووژل شو او ګڼ نور ټپیان شول. 2013-01-12

علینګار کې په بیس توغندي وار شول

دلغمان ولایت د علینګار ولسوالۍ په بره خان بابا سیمه کې د ګوډاګیو عسکرو بیس په توغندیو وویشتل شو، دبرید له امله دښمن ته داوښتي زیان په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي. 2013-01-12

علیشنګ کې اکمالاتي کانټینر وسوزول شو

دلغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ په کوټلي سیمه کې په اکمالاتي کانټینر چاودنه وشوه، دچاودنې له امله کانټینر اور واخیست او په بشپړه توګه وسوزېد، له چاودنې وروسته په کاروان وسلوال برید وشو چې په مهال یې ګڼ شمېر موټر تخریب شول او 2 تن عسکر سخت ژوبل شول. 2013-01-13

لغمان مرکز ته نږدې په ګوډاګیو عسکرو برید ترسره شو

د لغمان ولایت مر کز ته نژد ې په ابزي سیمه کې په اربکیانو وسلوال برید تر سره شو، دبریدله امله دښمن ته دمالي زیان په اوښتو سر بېره 3 تنه عسکر شدید ټپیان شول. 2013-01-14

علینګار کې دعسکرو پهورچلکې چاودنې عسکر مړه اوژوبلکړل

د لغمان ولایت دعلینګار ولسوالۍ په کنه ګل سیمه کې دعسکرو په مورچل کې دمجاهدینوله خواله ځ انګړي تکتیک نه په کار اخیستلو ماین ځ ای په ځ ای شو ی وو، کله چې عسکر خپلې مورچ ې ته راغلل دمجاهدینوله خوامایـن ته دریموټ په توسط انفجارور کړل شوچې له امله یې ۲ تنه عسکر ووژل شول او2 نور شدید ټپیان شول، خبرځ ای زیاته کړي په عیني وخت کې په دښمن وسلوال بریدهم تر سره شوچ ې په مهال یې یوعراده ټانګ په راکټ لانچر وویشتل شواوپوره ویجاړ شو، په دې سر بېره 1 تن عسکر پکې ووژل شو. 2013-01-14

لغمان مر کز ته نژدې 1 ټانګ او 5 عسکر له منځه لاړل

د لغمان ولایت دمهترلام مربوط په ابزي سیمه کې له اجیري اردو او اربکیانوسره درنه نښته تر سره شوه، د اوږ دمهالي نښتي په ترڅ کې 5 تنه عسکر ووژل شول او2 نور سخت ټپیان شول، له دې سره سره 1 زغروال ټانګ وویشتل شو اوپوره ویجاړ شو. 2013-01-17

د علینګار ولسوالۍ په ودانۍ او دفاعي پوستو بریدونه شو

دلغمان ولایت دعلینګار ولسوالۍ په ودانۍ اودفاعي پوستو وسلوال برید ترسره شو، دبرید په ترڅ کې دولسوالۍ ودانۍ دهشتاددو په 3 مرمیودقیق وویشتل شوه چې له امله یې یو تن پولیس ووژل شو او3 نور ژوبل شول، په دې سر بېره دولسوالۍ اوپوستو ودانیو ته پوره زیانونه واوښتل. 2013-01-18

قر غیو کې دښمن پوستو ته برید لاندې راغله

دلغمان ولایت د قرغیو ولسوالۍ په خیر وخېل سیمه کې ددښمن په پوسته وسلوال برید ترسره شو، دبریدله امله دپوستې ودانۍ ته په اوښتي زیان سر بېره 2 تنه عسکر سخت ژوبل شول. 2013-01-18

علینګار کې ماین عسکر ووژل

دلغمان ولایت دعلینګار ولسوالۍ په کلېکه سیمه کې داربکیانو په پلې ګومه دښخ کړل شوي ماین چاودنې د3 تنو اربکیانو ژوندواخیست او ګڼ نور یې ژوبل کړل.

2013-01-19

لغمان مر کز ته نژدې ماین د2 عسکرو ژوند واخیست

دلغمان ولایت دمهترلام مربوط دصافي قلعه او خان قلعه سیمو ترمنځ سیمه کې داربکیانو په موټرسایکل دښخ کړل شوي ماین چاودنې موټر سایکل پوره ویجاړ او ۲ تنه اربکیان ووژل. 2013-01-19

لغمان مر کز ته څېرمه 2 اربکیان ووژل شول

د لغمان ولایت مر کز مهترلام ته نژدې په کټل سیمه کې 2 تنه اربکیان چې له خپلې پوستې نه وتلي وو دوسلوال برید په مهال ووژل شول په برید کې یو بل سخت ژوبل شو. 2013-01-23

علیشنګ کې ددښمن په عسکرو درنه جګړه وشوه

دلغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ په وطن کټوسیمه کې ددښمن په عسکرو وسلوال برید تر سره شو، داوږ دمهالي جګړې په ترڅ کې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېره یې نه ده تر لاسه شوې.

2013-01-23

علیشنګ کې یو ځل بیا ددښمن قطار تر برید لاندې راغی

دلغمان ولایت د علیشنګ ولسوالۍ په وطن کټوسیمه کې ددښمن په موټریز کاروان دوهم ځل برید تر سره شو، په برید کې ددښمن 2 تنه سخت ژوبل شول.

2013-01-24

دعلیشنګ ولسوالۍ په ودانۍ توغندي وار شول

دلغمان ولایت دعلشنګ ولسوالۍ ودانۍ په ۲ توغند یو په دقیق ډول وویشتل شوه، دبریدله امله دښمن ته داوښتي زیان په اړه معلومات نه دي تر لاسه شوي.

2013-01-24

علشنګ کې ددښمن په ګزمه برید عسکر مړه اوژوبل شول

دلغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ په وطن کېټوسیمه کې ددښمن په ګزمه وسلوال بریدترسره کړ، دبریدپه ترخ کې یاده ګزمه دهاوان په 4 مرمیوهم وویشتل شوه، دبریدله امله 1 تن عسکر خپل ژوندله لاسه ورکړ او3 نور شدیدټپیان شول. 2013-01-24

علیشنګ کې ددښمن په ګزمه دهاوان بریدوشو

دلغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ په وطن کېټوسیمه کې دد ښمن دعسکروولاړه ګزمه دهاوان په ۵ مرمیووویشتل شوه، دبریدله امله دښمن ته زیان واوښت خوپه هکله یې شواهدنه دي ترلاسه شوي.
2013-01-25

علیشنګ کې ددښمن په کاروان بریدوشو

دلغمان ولایت دعلشینګ ولسوالۍ په غازي اباد اومنجین سیمو کې دګډدښمن په کاروان وسلوال بریدترسره شو، په بریدکې دښمن ته تلفات واوښتل خوداوښتو تلفاتوپه هکله تردم ګړۍ دقیق معلومات نشته. 2013-01-26

د دولت شاه ولسوالۍ په امنیه قومنداني بریدوشو

دلغمان ولایت ددولت شاه ولسوالۍ امنیه قومندانۍ تروسلوال بریدلاندي راغله، په بریدکې دښمن ته داوښتو تلفاتوپه اړه کره معلومات نه دي ترلاسه شوي.
2013-01-26

دعلیشنګ ولسوالۍ په ودانۍ بریدوشو

دلغمان لایت دعلیشنګ ولسوالۍ په ودانۍ دسپکو اودرنو وسلوبریدترسره شو، دبریدله امله دښمن ته داوښتو تلفاتوپه هکله کره معلومات نه دي ترلاسه شوي. 2013-01-27

علینګار کې دښمن په ګزمه بریدشوی

دلغمان ولایت دعلینګار ولسوالۍ په سالاب سیمه کې دداخلي عسکروپه پلې ګزمه دوسلوال بریدپه مهال ددښمن عسکرو ته تلفات واوښتل او دتلفاتوپه لیدلو سره له سیمې نه په بېښته بریالي شول. 2013-01-27

علینګار کې3 عسکرو تمرګ ژوبلوا و بښته

دلغمان ولایت دعلینګار ولسوالۍ په سندرواسیمه کې دداخلي عسکروپه موټرېز کاروان دوسلوال بریدپه مهال یو تن عسکر خپل ژوندله لاسه ورکړ او2 شدیدټپیان شول. 2013-01-27

علیشنګ کې پرپوسته برید2 عسکرووژل شول

دلغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ په کوټلي سیمه کې ددښمن پوسته دمجاهدینو تربریدلاندي راغله، دبریدله امله دپوستې ودانۍ تخریب شوه او۲ تنه عسکر یې ووژل شول. 2013-01-27

علیشنګ کې2 عسکرووژل شول

د لغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ په وطن کېټوسیمه کې دد ښمن په موټرېز کاروان وسلوال بریدترسره شو، دخبر له قراره په بریدکې 2 تنه عسکر ووژل شول او1 بل ژوبل شو. 2013-01-27

علیشنګ کې2 عسکرووژل شول

د لغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ په جمشیر ابادسیمه کې دګوډاګیو عسکروپه ګزمه وسلوال بریدترسره شو، دبریدپه ترخ کې ۲ تنه عسکر ووژل شول او 1 بل سخت ژوبل شو. 2013-01-28

د دولت شاه ولسوالۍ ودانۍ په هاوان وويشتل شوه

دلغمان ولایت د دولت شاه ولسوالۍ ودانۍ دهاوان په 7 مرمیودقیق وویشتل شوه، دبریدله امله ودانۍ ته پوره زیان واوښت اویوه ولاړ یوربنجر موټرپه بشپړه توګه وسوزېد. 2013-01-28

دلغمان مرکزته څېرمه2 اربکیان ووژل شول

د لغمان ولایت مرکزته نژدې دکټل په سیمه کې داربکیانو پوسته دمجاهدینو تروسلوال بریدلاندي راغله، دبریدپه ترخ کې 2 تنه اربکیان ووژل شول.
2013-01-30

لغمان مرکزته څېرمه په پوسته بریدترسره شو

د لغمان ولایت دمهترلام مربوط په شهیدباباسیمه کې ددښمن په پوسته وسلوال بریدترسره شو، دبریدله امله دپوستې ودانۍ زیانمنه شوه اوپه دې سربېره یو تن

عسکرپکې ووژل شو او۲ نور شدید ټپیان شول. 2013-01-31

نورستان

کامدیش کې په پوسته برید 1 عسکر ووژل شو

دنورستان ولایت د کامدیش ولسوالۍ په کاوردیش سیمه کې دد ښمن پوسته دمجاهدینو تر برید لاندې راغله، دبرید په مهال دپوستې ودانۍ زیانمنه شوه او1 تن عسکر پکې ووژل شو. 2013-01-04

دنورستان ددوآب ولسوالۍ په ودانۍ دهاوان ډزې وشو

د نورستان ولایت د دوآب ولسوالۍ ودانۍ دهاوان په 6 مرمیو په دقیق ډول و ویشتل شوه ،خبر زیاتوي یاده ودانۍ دهاوان په ۴ مرمیو دوهم ځل په داسې حال کې وویشتل شوه چې دنورستان ولایت امنیه قومندان (غلام الله) اونور چارواکي په اصطلاح دملي پیستون له عسکرو سره دولسوالۍ ودانۍ ته راغلل ، دبرید له امله دښمن ته داوښتې زیان په اړه تراوسه پورې دقیق معلومات نشته. 2013-01-09

کامدیش کې 8 عسکر وتمرګ ژوبل او ښته

دنورستان ولایت د کامدیش ولسوالۍ دارمورو او منډګل سیمو ترمنځ سیمه کې له اربکیانو سره هغه مهال خونړۍ نښتې صورت وموندکله چ ې دمجاهدینو پوستې ته چ ې دورځ ې به يې تر ې کار اخیست، دشپې له مخې اربکیان ننوتلي وو،په اوږ.دمهاله ج ګړ ه کې 5 تنواربکیانوخپل ژوندله لاسه ور کړ او3 نور سخت ژوبل شول اونور له سیمې نه په ښتېښ ته بریالي شول ،دیادوني ده دج ګړې په مهال داسلامي امارت2 تنه مجاهدین دشهادت لوړمقام ته ورسیدل اوبل ټپي شو ، اناالله واناالیه راجعون خبریاده کړي چ ې دج ګړې په لړ کې په سیمه دامریکایي الوتکوله خوادرنه بمباري هم وشوه چ ې له امله يې عاموخلکو ته مالي زیانونه واوښتل. 2013-01-13

ددوآب ولسوالۍ ودانۍ په میزایل وویشتل شوه

دنورستان ولایت د دوآب ولسوالۍ ودانۍ په ۳ میزایل په دقیق ډول وویشتل شوه، دبرید له امله دولسوالۍ ودانۍ تخریب شوه خودمر ګ ژوبلې کره شمېره نه ده ځر ګنده شوې. 2013-01-14

کامدیش کې داشغالګرو په بمبار کې 2 تنه شهیدان شول

دنورستان ولایت د کامدیش ولسوالۍ باز ګل کلي ته څېرمه داشغالګروبې پیلوټه الوتکې هغه عام وګړي په نښه کړل چې په سیمه کې پلې روان وو، خبروایي په بمبار کې ۲ تنه هیوادوال په شهادت ورسیدل .اناالله واناالیه راجعون 2013-01-21

کامدیش کې ماین پولیس ټپیان کړل

دنورستان ولایت د کامدیش ولسوالۍ دباغیچه په سیمه کې دسرحدي کنډ ک دپولیسو رینجر موټر په ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټر پوره تخریب شواوپکې ناست۴ تنه عسکر سخت ژوبل شول 2013-01-23

نورستان کې دکابل اداري داستخباراتي کړیو لخوا لیسه وسوزول شوه

دنورستان ولایت د وانت وایګل ولسوالۍ په ژنچیګل سیمه کې د کلي یوه لویه لیسه چې دژنچیګل ماشومانو پکې درس وایه د ګوډاګۍ اداري داستخباراتي کار کونکوله خوا وسوزول شوه، دپېښې په اړه دسیمه ییزو خلکو او مجاهدینو د تحقیقاتو په ترڅ کې جوته شوه چې ځینې شرمېدلي څېرې په دې جنایت کې لاس لري او د کابل اداري داستخباراتو لخوا ور ته دنده ور کړل شوې وه تر څو دخلکو دحساسیت راوپاروي اوداربکي سازي له شوم پروګرام سره یوځای شي ،په دې ورستیو کې دنورستان ولایت په ځینو سیمو کې دخلکو کورنه هم سوځول شوي وو چې دهمدغو استخباراتي کړیوله خواد پروپاګند کولو او تبلیغاتو ته دزمینې برابرولو په موخه ځینو خلکو پکې لاس درلود.

هلمند

باباجي: له دښمن سره سخته جګړه وشوه

د هلمند ولایت د باباجي ولسوالۍ د کوفکي په سیمه کې د بوغرا پر غاړه له ښکېلاکګر او ګوډاګیو عسکرو سره د شدیدې جګړې په مهال دښمن ته درانه تلفات واوښتل خو دقیقه شمېره یې نه ده څرګنده شوې، په جګړه کې یو تن ملکي وګړی د دښمن په مرمیو زخمي شو. 2013-01-01

مارجه: د برید په مهال 3 عسکر قتل 5 ژوبل شول

د هلمند ولایت د مارجې ولسوالۍ د بلاک نو په سیمه کې د تازه ګل له کوټې سره د ګوډاګیو عسکرو په پلې ګزمه وسلوال برید ترسره شو، د برید په ترځ کې ۳ تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول او ۵ تنه نور سخت ژوبل شول. 2013-01-01

لشکرګاه: ماین 2 پولیس قتل 1 ژوبل کړ

د هلمند ولایت د مرکز لشکرګاه اړوند د لشکري بازار په سیمه کې د ګوډاګیو پولیسو په پلې ګزمه د ویشتونکي ماین چاودنه وشوه، چاودنې ۲ تنه ګوډاګي پولیس ووژل او یو بل یې سخت ژوبل کړ. 2013-01-01

خانشین: د اشغالګرو زغروال ټانک د ماین ښکار شو

د هلمند ولایت د خانشین ولسوالۍ مرکز ته څېرمه په دښت کې د ښکېلاکګرو زغروال ټانک د ماین ښکار شو، د چاودنې له امله ټانک په بشپړه توګه ویجاړ او پکې ناستو ښکېلاکګرو ته مرګ ژوبله واوښته خو دقیقه شمېره یې نه ده څرګنده شوې. 2013-01-01

ګرشک: له دښمن سره سخته جګړه وشوه

د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د آدم خان د شرو په سیمه کې له اشغالګرو او اربکیانو سره سخته نښته وشوه، په نښته کې دښمن تلفات واوښتل خو دقیقه شمېره یې نه ده څرګنده شوې. 2013-01-02

کجکي: له دښمن سره شدیده جګړه وشوه

د هلمند ولایت د کجکي ولسوالۍ بازار ته نژدې د سروبندي په سیمه کې ګڼ شمېر اشغالګر او ګوډاګي عسکر د چورلکو په توسط راښکته او د مجاهدینو تر وسلوال برید لاندې راغلل، د ۳ ورځنۍ شدیدې جګړې په ترځ کې دښمن ته درانه تلفات واوښتل او د تلفاتو په لېږدلو سره له سیمې نه وتښتېدل، خبروایي د جګړې په مهال ۲ تنه مجاهدین زخمیان او ۲ نور د شهادت لوړ مقام ته ورسېدل، انا لله وانا الیه راجعون 2013-01-02

موسی کلا: د افسر په شمول 3 عسکر ووژل شول

د هلمند ولایت د موسی کلا ولسوالۍ د ده یې کاریز په سیمه کې د اجیري اردو په پلې ګزمه د ویشتونکي ماین چاودنه وشوه، د چاودنې له امله د اجیري اردو د یوه افسر په شمول ۳ تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول. 2013-01-02

نهر سراج: د دښمن ټانک او 5 عسکر له منځه لاړل او جګړه پای ته ورسېده

د هلمند ولایت د نهر سراج د یخچال په سیمه کې هغه ښکېلاکګر او ګوډاګي عسکر له سخت مقاومت سره مخ شول چې سیمې ته د چورلکو په مټ راښکته شول، د جګړې په مهال دښمن ته درانه تلفات واوښتل او د تلفاتو په لېږدلو سره له سیمې وتښتېد، خبروایي د تېښتې په مهال د دښمن یو زغروال ټانک په ماین برابر او بشپړ له منځه لاړ، په دې علاوه په ټانک کې ناست ۵ تنه عسکر ووژل شول. 2013-01-02

مارجه: په پوسته برید کې 3 پولیس ووژل شول

د هلمند ولایت د مارجې ولسوالۍ د سستاني د مستردي په سیمه کې د محلي پولیسو په پوسته وسلوال برید ترسره شو، په برید کې دښمن ۳ درې تنه محلي پولیس ځای په ځای ووژل شول. 2013-01-02

سنګین: په جلا پېښو کې یو ټانک ویجاړ 7 عسکر مړه او ژوبل شول

د هلمند ولایت د سنګین ولسوالۍ بازار ته نژدې د حاجي ګل بابا اکا په کلي کې د اجیري اردو یو ټانک په ماین والوزول شو، د چاودنې له امله ټانک په بشپړه توګه ویجاړ او پکې ناست ۳ تنه ووژل شول او ۲ تنه نور سخت ژوبل شول، همدارنګه په یاده سیمه کې د دښمن په پلې ګزمه د ویشتونکي ماین چاودنې ۲ تنه ګوډاګي عسکر ووژل او یو بل یې سخت ژوبل کړ. 2013-01-02

نهر سراج: له ګډ دښمن سره سخته جګړه وشوه د هلمند ولایت د نهر سراج د یخچال دشني ګومبتي په سیمه کې اشغالګر او ګوډاګي عسکرو چې سیمې ته د عملیاتو په موخه له هوایي او ځمکني ځواک سره راغلل، له سخت مقاومت سره مخ شول، د جګړې په مهال د دښمن یو ټانک په ماین والوزول شو، د چاودنې له امله ټانک په بشپړه توګه ویجاړ او پکې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته خو دقیقه شمېره یې نه ده څرګنده شوې. 2013-01-02

ناوه: 2 ټانکونه ویجاړ 13 عسکر مړه او ژوبل شول د هلمند ولایت د ناوې ولسوالۍ د عینک سیمې ته د اجیرې اردو ګڼ شمېر عسکر او پولیس د عملیاتو په موخه ووتل چې د مجاهدینو له وسلوال ګواښ سره مخ شول، د جګړې په مهال د دښمن دوه ټانکونه د ماینونو ښکار او پوره له منځه لاړل، دغه راز د دښمن په پلیو عسکرو هم دوه ځای په ځای شوي ماینونه وچاودېدل، په چاودنو کې ۸ تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول او ۵ تنه نور سخت ژوبل شول. 2013-01-02

ناوه: په جګړه کې د اجیرې اردو 4 عسکر ووژل شول د هلمند ولایت د ناوې ولسوالۍ د شورشورک په سیمه کې د اجیرې اردو په پلیو عسکرو وسلوال برید ترسره شو، په برید کې ۴ تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول او ۲ تنه نور سخت ژوبل شول. 2013-01-02

ګرمسېر: یو اربکی قتل بل ژوبل شو د هلمند ولایت د ګرمسېر ولسوالۍ د کوشي په سیمه کې په اربکیانو د وسلوال برید په مهال یو تن اربکی ووژل شو او بل سخت ژوبل او موټرسایکل یې په بشپړه توګه ویجاړ شو. 2013-01-02

مارجه: له ګوډاګیو عسکرو سره سخته جګړه ترسره شوه د هلمند ولایت د مارجې ولسوالۍ د سستاني د سیفن په سیمه کې له ګوډاګیو عسکرو سره سخته جګړه ترسره شوه، په جګړه کې دښمن ته تلفات واوښتل خو په اړه یې کره معلومات نه دي ترلاسه شوي 2013-01-04

نوزاد: له اشغالګرو سره سخته جګړه وشوه د هلمند ولایت د نوزاد ولسوالۍ د سري کلا په سیمه کې په هغو اشغالګرو وسلوال برید ترسره شو چې سیمې ته د عملیاتو په موخه راوتلي وو، د جګړې په مهال د دښمن یو زغروال ټانک د مجاهدینو له لوري په ماین والوزول شو د چاودنې له امله ټانک په بشپړه توګه ویجاړ او پکې سپاره ۲ تنه اشغالګر ووژل شول او ۳ تنه نور سخت ژوبل شول 2013-01-04

مارجه: په جګړه کې ۴ اربکیان قتل ۳ ژوبل شول د هلمند ولایت د مارجې ولسوالۍ د قاري صدي دا بي ژرندو په سیمه کې له اربکیانو سره سخته جګړه ترسره شوه، د جګړې په ترڅ کې ۴ تنه اربکیان ووژل شول او ۳ تنه سخت ژوبل شول. 2013-01-04

سنګین: قومندان عبدالخالق او یو ملګری یې ووژل شول د هلمند ولایت د سنګین ولسوالۍ د ساروان کلا د باینزو په سیمه کې د اربکیانو په پوسته وسلوال برید ترسره شو، د برید په ترڅ کې دښمن ته تلفات واوښتل خو کره معلومات یې نه دي ترلاسه شوي له جګړې وروسته د دښمن په پلیو عسکرو ۲ کړی ماینونه چاودېدل چې له امله یې قومندان عبدالخالق او یو اربکی ووژل شول. 2013–01–04

موسی کلا: د اربکیانو قومندان اشیوا ووژل شو د هلمند ولایت د موسی کلا ولسوالۍ د لنډي ناوې په سیمه کې د محلي پولیسو په قومندان شیرو وسلوال برید ترسره شو، په برید کې نوموړی قومندان ووژل شو، کلاشنکوف او چاړه یې غنیمت شوه. 2013-01-05

موسی کلا: یو اربکی غفور قتل مهمات یې غنیمت شول د هلمند ولایت د موسی کلا ولسوالۍ د یتمچي په سیمه کې په اربکیانو د وسلوال برید په مهال یو تن اربکی غفور ووژل شو، په برید کې د وژل شوي اربکي چاړه او کلاشنکوف غنیمت شول او کرولا موټر یې په مرمیو تخریب شو. 2013-01-05

مارجه: په جګړه کې 8 عسکر قتل 4 ژوبل شول

د هلمند ولایت د مارجې ولسوالۍ د عصمت بازار په سیمه کې د اجیري اردو په عسکرو وسلوال برید ترسره شو، د اوږدې جګړې په ترڅ کې ۸ تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول او ۸ تنه نور سخت ژوبل شول، په جګړه کې یو مجاهد زخمي شو. 2013-01-05

مارجه: یو پولیس له مجاهدینو سره یو ځای شو

د هلمند ولایت د مارجې ولسوالۍ د قاري صدي د آوي ژرندو په سیمه کې یو تن پولیس سید محمد د حقانیت په درک کولو له اسلامي امارت سره یو ځای شو، نوموړي پولیس له ځان سره یو میل کلاشنکوف او یوه چانټه مجاهدینو ته راوړسوله. 2013-01-05

نوزاد: ښکېلاکګرو 2 ملکي وګړي بندیان کړل

د هلمند ولایت د نوزاد ولسوالۍ د خنجکي کاریز په سیمه کې ښکېلاکګر و د چورلکو په مټ چاپه وهله، خبر زیاتوي د دښمن د عملیاتو په مهال ۲ تنه ملکي وګړي د بندیانو په توګه له ځان سره بوتلل. 2013-01-06

خانشین: د اشغالګر و 2 ټانکونه د ماینونو ښکار شول

د هلمند ولایت د خانشین ولسوالۍ د خیر اباد او تاغز په سیمو کې د اشغالګر و ۲ ټانکونه د جلا ماینونو ښکار او بوره له منځه لاړل، د چاودنو له امله په ټانکونو کې ناستو اشغالګرو ته درنه مرګ ژوبله واوښته خو دقیقه شمېره یې نه ده څرګنده شوې، په یوه بل خبر کې ویل شوي چې په یاده سیمه کې اشغالګرو خپله غټه قرارګاه تخلیه کړه. 2013-01-06

نادعلي: په جګړه کې د ګډ دښمن 3 عسکر قتل 2 ژوبل شول

د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ د شني جامعي په سیمه کې له هغو اشغالګرو او ګوډاګي و عسکرو سره سخته جګړه وشوه چې سیمې ته د چورلکو په توسط د عملیاتو په موخه راښکته شول، د شدیدې جګړې په مهال د ګډ دښمن ۳ تنه عسکر ووژل شول او ۲ نور سخت ژوبل شول، د خبر له قراره په جګړه کې ۲ مجاهدین زخمیان او یو تن د شهادت لوړ مقام ته ورسېد، انا لله وانا الیه راجعون 2013-01-06

نادعلي: له اجیري اردو سره سخته جګړه وشوه

د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ د بهاري په سیمه کې د اجیري اردو په پلي و عسکرو وسلوال برید ترسره شو، د برید په ترڅ کې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته خو دقیقه شمېره یې نه ده څرګنده شوې. 2013-01-06

لشکرګاه: قومندان او یو ساتونکی یې ووژل شول

د هلمند ولایت د مرکز لشکرګاه د شورمانو په سیمه کې د پولیسو په لنډ کروزر موټر د ماین درنه چاودنه وشوه، د چاودنې له امله موټر ویجاړ او پکې قومندان الله نور له خپل یوه تن ساتونکي سره ځای په ځای ووژل شو. 2013-01-07

لشکرګاه: د استخباراتو 3 مامورین وویشتل شول

د هلمند ولایت د مرکز لشکرګاه په بازار کې د کندهار د موټرانو له اډې سره د جاسوسي شبکې ۳ تنه کارمندان (شربت خان، ډاکتر، او حبیب الله) د چریکي برید په مهال وویشتل شول، په برید کې ۲ تنه سخت ژوبل شول او یو یې ځای په ځای ووژل شو. 2013-01-07

نادعلي: په جګړه کې 2 عسکر قتل شول

د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ د ماتکي په سیمه کې له ګډ دښمن سره سخته جګړه وشوه، د اوږدې جګړې په ترڅ کې ۲ تنه ګوډاګیو عسکرو خپل ژوند له لاسه ورکړ.. 2013-01-07

خانشین: 2 ګوډاګي عسکر ووژل شول

د هلمند ولایت د خانشین ولسوالۍ په تاغز سیمه کې د سلوال برید په مهال ۲ تنه ګوډاګي عسکر چې د اربکیانو په لیکو کې یې دندې ترسره کولې ووژل شول.
2013-01-08

ګرشک: نفوذي عسکر 18 اشغالګر په ډزو ووژل

د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د اړوند سیدانو په سیمه کې د ښکېلاکګرو په قرارګاه کې د ننه یو تن بااحساسه نفوذي عسکر قاسم په قرارګاه کې په مېشتو ښکېلاکګرو وسلوال برید وکړ، په برید کې ۸ تنه

اشغالګر ځای په ځای ووژل، له برید وروسته نوموړی له قرارګاه نه روغ رمت ووت. 2013-01-08

موسی کلا: له اشغالګرو سره جګړه وشوه

دهلمند ولایت د موسی کلا ولسوالۍ په هزارمیشي کارېز سیمه کې له اشغالګرو عسکرو سره جګړه تر سره شوه، په جګړه کې چې ۴ ساعته یې دوام وکړ اشغالګرو عسکرو ته درنه مرګ ژوبله واوښته خو په اړه یې دقیق معلومات نشته. 2013-01-08

کجکي: په پوسته برید، 2 عسکر ووژل شول

دهلمند ولایت د کجکي ولسوالۍ مرکز ته نژدې د ګوډاګیو عسکرو پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، د برید له امله د پوستې ودانۍ زیانمنه او ۲ تنه عسکر یې ووژل شول. 2013-01-08

مارجه: له اجیري اردو سره نښته تر سره شوه

دهلمند ولایت د مارجې ولسوالۍ دسستاني په سپین سیمه کې د اجیري اردو له عسکرو سره درنه نښته وشوه، په نښته کې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېره یې نه ده څرګنده شوې. 2013-01-08

کجکي: ماین د یو عسکر ژوند واخیست

دهلمند ولایت د کجکي ولسوالۍ بازار ته څېرمه د ښخ کړل شوي ماین چاودني د اجیري اردو یو تن عسکر وواژه او ګڼ نور یې ژوبل کړل. 2013-01-08

ګرشک: اشغالګرو هغه قرارګاه تخلیه کړه چې 8 بریتانویان پکې وژل شوي وو

دهلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ په سیدانو کلي کې اشغالګرو عسکرو هغه قرارګاه تخلیه کړه چې یو وړاندې پکې د یو تن نفوذي مجاهد له خوا ۸ تنه بریتانوي عسکر ووژل شول. خبر کاږي په سیمه کې اوسمهال هیڅ بهرنی عسکر نه دی پاتې او ټول له سیمې ووتل. 2013-01-08

نادعلي: له ګډبنډمن سره سخته جګړه وشوه

دهلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ دشني جامعي او نرې مانده په سیمه کې له اشغالګرو او ګوډاګیو عسکرو سره سخته جګړه وشوه، په جګړه کې دښمن ته درانه تلفات واوښتل خو کره او دقیق معلومات یې نه دي ترلاسه شوي، د جګړې په مهال یو مجاهد زخمي او دري تنه نور د شهادت لوړ مقام ته ورسیدل، انالله وانا الیه راجعون 2013/1/9

نهر سراج: له ګډبنډمن سره سخته جګړه روانه ده

دهلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د نهر سراج د یخچال دشني ګومبتي په سیمه کې ګڼ شمېر اشغالګر او ګوډاګي عسکر د چورلکو په توسط راښکته او سمدستي د مجاهدینو تر وسلوال برید لاندې راغلل، د اوږده مقاومت په ترڅ کې دښمن ته درانه تلفات واوښته او د یوې ورځې له تیرولو وروسته له سیمې وتښتېدل. 2013-01-09

موسی کلا: یو پولیس له اسلامي امارت سره یو ځای شو

دهلمند ولایت د موسی کلا ولسوالۍ د اسمانیانو په سیمه کې یو تن پولیس عبدالحنان د حقایقو په درک کولو له اسلامي امارت سره یو ځای شو، نوموړي له ځان سره یو میل کلاشنکوف او چاینټه هم مجاهدینو ته راوړه. 2013-01-09

نهر سراج له پولیسو سره جګړه وشوه، یو ټانک او 7 پولیس له منځه لاړل

دهلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د نهر سراج د پوپلزو په سیمه کې له ګوډاګیو پولیسو سره سخته جګړه تر سره شوه، په جګړه کې د دښمن له نورو تلفاتو سره سره یو ټانک هم په ماین والوت، د چاودنې له امله ټانک بشپړ ویجاړ او پکې سپاره ۷ تنه پولیس ووژل شول او ۳ تنه نور سخت ژوبل شول. 2013-01-09

مارجه: 2 اردو عسکر په درازکوف ووژل شول

دهلمند ولایت د مارجې ولسوالۍ دسستاني په سیمه کې د اجیري اردو ۲ تنه عسکر په درازکوف په نښه او ځای په ځای ووژل شول، له پېښې وروسته نور عسکر پلي راووتل او د مجاهدینو تر وسلوال برید لاندې راغلل، په برید کې دښمن ته د اوښتي زیان موثق شواهد نه دي ترلاسه شوي. 2013-01-09

سنګین: په رینجر چاودنې 3 پولیس قتل 2 ژوبل شول

د هلمند ولایت د سنګین ولسوالۍ د ساروان کلا د کونټوزو په کلي کې د ګوډاګیو پولیسو رینجر د ماین ښکار شو، د چاودنې له امله رینجر په بشپړه توګه ویجاړ او پکې سپاره ۳ تنه پولیس ووژل شول او ۲ تنه نور سخت ژوبل شول . 2013-01-10

ګرشک: ښکېلاکګرو ملکي وګړي بندي کړل

د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د کلای ګز د ریګن مانده په سیمه کې اشغالګرو د چورلکو په مټ په یوه کورچاپه ووهله، خبر زیاتوي دښمن د عملیاتو په پای کې د کور یو تن غړی له ځان سره د بندي په توګه یووړ. 2013-01-10

مارجه: له پولیسو او اردو سره سخته جګړه وشوه

د هلمند ولایت د مارجې ولسوالۍ د سستاني د سیفن د باوړي په سیمه کې له اجیري اردو او ګوډاګیو پولیسو سره سخته جګړه وشوه، د جګړې په مهال د دښمن ۸ تنه عسکر ووژل شول او ۲ تنه نور یې ژوبل شول، په مخامخ جګړه کې ۳ تنه مجاهدین زخمیان او یو بل د شهادت لوړ مقام ته ورسېد، انالله وانا الیه راجعون 2013/1/10

سنګین: د ماین چاودنې د قوماندان په شمول 3 عسکر ووژل شول

د هلمند ولایت د سنګین ولسوالۍ د چرخکیانو مانده په سیمه کې د اجیري اردو په پلیو عسکرو د ماین چاودنه وشوه، چاودنې د یوه قوماندان په شمول درې تنه ګوډاګي عسکر ځای پر ځای ووژل او دوه تنه نور یې سخت ژوبل کړل. 2013/1/10

ګرشک: د اشغالګرو ټانک د ماین ښکار شو

د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د کمفرک پر غزېدلي سړک د اشغالګرو عسکرو په ټانک د ماین چاودنه وشوه، د چاودنې له امله ټانک په بشپړه توګه ویجاړ او پکې ناستو اشغالګرو ته مرګ ژوبله واوښته. 2013/1/10

ګرشک: د برتانوي زغروال ټانک د ماین ښکار شو

د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ اړوند د سړیدانو کلي ته څېرمه د حاجي نیکه په مانده کې د برتانوي اشغالګرو یو زغروال ټانک د ماین ښکار او له منځه لاړ، په چاودنه کې بهرنیو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېره یې نه ده ترلاسه شوې. 2013/1/10

ګرشک: د ګډ دښمن په قرارګاه توغندیز برید تر سره شو

د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د حیدراباد په سیمه کې د اشغالګرو او ګوډاګیو عسکرو په ګډه قرارګاه توغندیز برید تر سره شو، د برید په مهال یو توغندی په قرارګاه کې دننه ولګېد او له امله یې په قرارګاه کې اور بل شو، په پېښه کې دښمن ته اوښتي زیان دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. 2013/1/10

نهر سراج: موټر او 3 پولیس له منځه لاړل

د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د نهر سراج د شرېندک مانده په سیمه کې د ګوډاګیو پولیسو کرولا موټر د ماین ښکار شو، د چاودنې له امله موټر په بشپړه توګه ویجاړ او پکې سپاره ۳ تنه پولیس ووژل شول . 2013/1/12

خانشین: په کاروان برید، 4 غټ موټرونه وسوځول شول

د هلمند ولایت د خانشین ولسوالۍ د دیوالک په سیمه کې د دښمن په اکمالاتي کاروان وسلوال برید تر سره شو، د برید په مهال دوه ټانکر او دوه کانټینر موټرونه د اور په لمبو کې لوګي شول خو دښمن ته د اوښتې مرګ ژوبلې دقیقه شمېره نه ده ترلاسه شوې . 2013/1/12

باباجي: رینجر تخریب، 6 عسکر مړه او ژوبل شول

د هلمند ولایت د باباجي ولسوالۍ د کوفکي په سیمه کې د بوغرا پر غاړه د اجیري اردو رینجر موټر په ماین والوزول شو، د چاودنې له امله موټر په بشپړه توګه ویجاړ او پکې سپاره ۴ تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول او ۲ نور سخت ژوبل شول، د خبر له مخې تر چاودنې وروسته په دښمن وسلوال برید هم تر سره شو خو په برید کې دښمن ته د اوښتو تلفاتو دقیق ارقام نشته . 2013/1/12

لښکرګاه: زخمي شوی د جاسوسي شبکې غړی ومړ

د هلمند ولایت په مرکز لښکرګاه کې د جاسوسي شبکې غړی (شربت خان) چې څو ورځې وړاندې د مجاهدینو له

لوري د یوه غلچکي برید په ترڅ کې ژوبل شوی و، د سختو زخمونو له امله ژوند له لاسه ورکړ .
2013/1/12

لشکرګاه: په غلچکي برید کې د اربکیانو قومندان ووژل شو

د هلمند ولایت د مرکز لشکرګاه اړوند د بولان په سیمه کې د مارجې ولسوالۍ د اربکیانو قومندان (حمید چې په صدا سره یې شهرت درلود) د مجاهدینو له لوري د یوه غلچکي برید په ترڅ ووژل شو . 2013/1/12

کجکي: ټانک او 5 عسکر له منځه لاړل

د هلمند ولایت د کجکي ولسوالۍ د لوی مانده په سیمه کې د اجیرې اردو ټانک په ماین والوزول شو، چاودنې ټانک په بشپړه توګه وېجاړ او پکې سپاره 5 تنه ګوډاګي عسکر ووژل. 2013-01-12

نوزاد: د اشغالګرو په قرارګاه 3 توغندي وتوغول شول

دهلمند ولایت د نوزاد ولسوالۍ د ګومي کاریز په سیمه کې د اشغالګرو قرارګاه په ۳ توغندیو په دقیق ډول وویشتل شوه، په پېښه کې د دښمن ته د راواوښتو تلفاتو دقیقه شمېره نه ده څرګنده شوې. 2013-01-12

نادعلي: د ماین په ترڅ کې یو پولیس ووژل شو

دهلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ د نري مانده په سیمه کې په ګوډاګیو پولیسو وسلوال برید تر سره شو، د برید په مهال یو تن پولیس خپل ژوند له لاسه ورکړ 2013-01-12

سنګین: ماین 2 عسکر قتل 1 ژوبل کړ

دهلمند ولایت د سنګین ولسوالۍ د چر خکیانو مانده په سیمه کې د اجیرې اردو په پلیو عسکرو د چره دار ماین چاودنې ۲ تنه ګوډاګي عسکر ځای په ځای ووژل او یو بل یې سخت ژوبل کړ. 2013/1/12

نادعلي: په رینجر د ماین چاودنې 4 عسکر ووژل

دهلمندولایت دنادعلي ولسوالۍ د شني جام پاولوی مانده ترمنځ له باوړیو سره د اجیرې اردو د عسکرو یو رینجر موټر د ماین ښکار او په بشپړه توګه له منځه لاړ، په دې سربېره په چاودنه کې ۴ تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول او یو بل سخت ژوبل شو 2013/1/12

مارجه: د جګړې په مهال 5 عسکر قتل 2 ژوبل شول

د هلمند ولایت د مارجې ولسوالۍ د سستاني پایې ته د اجیرې اردو په هغو عسکرو وسلوال برید تر سره شو چې سیمې ته د عملیاتو په موخه راوتلي وو، د برید په مهال د اجیرې اردو ۵ تنو عسکرو خپل ژوند له لاسه ورکړ او ۲ نور سخت ژوبل شول . 2013/1/13

مارجه: موټرسایکل او 2 پولیس له منځه لاړل

د هلمند ولایت د مارجې ولسوالۍ د تازه ګل او خلیفه محمدشاه چهارراهي ترمنځ پر غزي دلي سړک د نظم عامه پولیسو موټرسایکل د ماین ښکار شو، په چاودنه کې موټرسایکل پوره وېجاړ او ور باندې سپاره ۲ تنه پولیس ووژل شول. 2013/1/12

مارجه: د اشغالګرو زغرواله ټانک د ماین ښکار شو

دهلمند ولایت د مارجې ولسوالۍ د چانځیانو د مانده په سیمه کې د اشغالګرو په زغروال ټانک د ماین درنه چاودنه وشوه، د چاودنې له امله ټانک پوره وېجاړ او پکې ناستو اشغالګرو ته مرګ ژوبله واوښته .
2013/1/13

نهر سراج: په چاودنو جګړه کې یو بهرنی قتل بل ژوبل شو

د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د نهر سراج د پوپلزو په سیمه کې د اشغالګرو په پلې ګزمه لومړی د ماین چاودنه وشوه او بیا تر وسلوال برید لاندې راغله، د برید په مهال یو تن بهرنی عسکر ووژل شو او یو بل سخت ژوبل شو . 2013/1/14

نادعلي: په برید کې 1 عسکر قتل 3 ژوبل شول

د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ د غلو چهارراهي په سیمه کې په ګوډاګیو عسکرو هغه مهال وسلوال برید تر سره شو چې په سیمه کې په تلاشي بوخت وو، د برید په ترڅ کې یو تن ګوډاګی عسکر ووژل شو او ۳ تنه نور سخت ژوبل شول . 2013/1/14

سنګین: ماین 2 عسکر قتل 2 ژوبل کړل

د هلمند ولایت د سنګین ولسوالۍ د چر خکیانو مانده په سیمه کې د اجیرې اردو په پلې ګزمه د ماین د درنې

چاودني له امله ۲ تنه ګوډاګي عسکر ځای په ځای ووژل شول او ۲ نور سخت ژوبل شول. 2013/1/14

ګرشک: دښکېلاکګرو په قرارګاه وسلوال برید ترسره شو

د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د میرمندو په سیمه کې دښکېلاکګرو په قرارګاه وسلوال برید ترسره شو، په برید کې دښمن ته درانه تلفات واوښتل خو دقیقه شمېره یې نه ده ترلاسه شوې، خبروایي وروسته په سیمه کې دښکېلاکګرو چورلکو او جټ الوتکو سخت بمبار وکړ چې له امله یې ۵ تنه مجاهدین په شهادت ورسېدل. اناالله وانااليه راجعون 2013-01-14

نادعلي کې 2 ګوډاګي عسکر قتل 2 ژوبل شول

د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ د شاول مانده په سیمه کې دبغرا پر غاړه داجیري اردو په پلیو عسکرو د ماین چاودنه وشوه او بیا سمدستي تر وسلوال برید لاندې راغلل، په دواړو پېښو کې ۲ تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول او ۲ نور سخت ژوبل شول. 2013/1/14

نادعلي: داشغالګرو زغروال ټانک د ماین ښکار شو

د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ د شاول مانده په سیمه کې د شوراب میدان پای ته داشغالګرو د کومې زغروال ټانک د ماین ښکار شو، دچاودني له امله ټانک پوره ویجاړ او پکې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته.
2013-01-14

کجکي: ټانک او 4 اجیر عسکر له منځه لاړل

د هلمند ولایت د کجکي ولسوالۍ بازار ته نږدې د لوی مانده په سیمه کې داجیري اردو د کومې ټانک په ماین والوزول شو، په چاودنه کې ټانک پوره ویجاړ او پکې سپاره ۴ تنه عسکر ووژل شول. 2013/1/14

نهر سراج: یرغلګر د تلفاتو په لیدلو سره وتښتېدل

د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د نهر سراج د ګوبن په سیمه کې اشغالګر عسکر د چورلکو په مټ راښکته او تر سخت وسلوال برید لاندې راغلل، په جګړه دښمن ته تلفات واوښتل او د تلفاتو په لیدلو سره له سیمې وتښتېدل. 2013-01-15

نهر سراج: د یرغلګرو او ګوډاګي عسکرو سره سخته جګړه وشوه

د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د نهر سراج د ګوبن په سیمه کې ګڼ شمېر یرغلګرو او ګوډاګي عسکر د چورلکو په مټ راښکته او لږ وروسته ټانکونه هم ور ته راغلل، د خبر له قراره د دښمن له عسکرو سره په جګړه کې دښمن ته تلفات واوښتل خو شمېره یې نه ده ترلاسه شوې. 2013-01-15

مارجه: دښکېلاکګرو زغروال ټانک د ماین ښکار شو

د هلمند ولایت د مارجې ولسوالۍ د چاپېلانو مانده سیمه کې دښکېلاکګرو زغروال ټانک د ماین ښکار شو، دچاودني له امله ټانک پوره ویجاړ او پکې ناستو ښکېلاکګرو ته مرګ ژوبله واوښته. 2013

نادعلي: داجیري اردو له عسکرو سره جګړه وشوه

د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ د غلو چراهي په سیمه کې داجیري اردو په پلیو عسکرو وسلوال برید ترسره شو، د برید په ترځ کې دښمن ته تلفات واوښتل خو کره شمېره یې نه ده څرګنده شوې. 2013/1/15

کجکي: له ګډ دښمن سره سخته جګړه وشوه

د هلمند ولایت د کجکي ولسوالۍ د زمینداور د رنځه کاریز په سیمه کې د ګډ دښمن عسکر د چورلکو په مټ راښکته او له سخت مقاومت سره مخ شول، په جګړه کې دښمن ته درانه تلفات واوښتل خو په اړه یې کره معلومات نه دي ترلاسه شوي، په پېښه کې دښکېلاکګرو په ډزو ۳ تنه کلیوال شهیدان شول. اناالله وانااليه راجعون 2013-01-15

نوزاد: په ټانک چاودني 5 ګرجستاني عسکر مړه او ژوبل کړل

د هلمند ولایت د نوزاد ولسوالۍ د کاریز سفید په سیمه کې د ګرجستاني اشغالګرو زغروال ټانک په ماین والوزول شو، دچاودني له امله ټانک په بشپړه توګه ویجاړ او پکې سپاره ۲ تنه یرغلګر ځای په ځای قتل او ۳ نور سخت ژوبل شول. 2013-01-16

مارجه: د هلمند والي په موټرو کاروان وسلوال برید ترسره شو

د هلمند ولایت د مارجې ولسوالۍ د ترخه ناور په سیمه کې پر غځېدلي سړک له مزار بلاک سره د هلمند والي په موټرو کاروان وسلوال برید ترسره شو، د برید په ترځ کې ۳ تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول او یو بل سخت ژوبل شو، وروسته د دښمن په سیمه کې ۳ تنه عام کلیوال ونیول یو یې زخمي کړ او ۲ تنه یې په شهادت ورسول. انالله وانا الیه راجعون 2013-01-16

نادعلي: ماین د 3 عسکرو ژوند واخیست

د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ د سیوکي غربي په سیمه کې د اجیري اردو د پوستې مخې ته د دښمن په پلې ګزمه د ښخ کړل شوي ماین چاودنې ۳ تنه ګوډاګي عسکر ووژل. 2013-01-16

نادعلي: په جګړه کې 1 بهرنی عسکر قتل 2 ژوبل شول

د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ د باري ګل بازار په مربوطاتو کې له اشغالګرو سره د خونړۍ نښتې په ترځ کې یو تن یرغلګرو خپل ژوند له لاسه ورکړ او ۲ تنه نور سخت ژوبل شول. 2013-01-16

خانشین: 2 اربکیان قتل یو ژوبل شو

د هلمند ولایت د خانشین ولسوالۍ د تاغز په سیمه کې په اربکیانو وسلوال برید ترسره شو، د برید په مهال د دښمن یو رینجر موټر زیانمن شو، ۲ تنه اربکیان ووژل شول او یو بل سخت ژوبل شو، 2013-01-16

نوزاد: ماین یو ګوجستانی عسکر قتل بل ژوبل کړ

د هلمند ولایت د نوزاد ولسوالۍ د انزر شالي کاریز په سیمه کې د ګوجستاني ښکېلاکګرو په پلې ګزمه د ماین چاودنه وشوه، د چاودنې له امله یو تن ګوجستانی عسکر ووژل شو او یو بل سخت ژوبل شو. 2013-01-16

کجکي: له ګډ دښمن سره سخته جګړه وشوه

د هلمند ولایت د کجکي ولسوالۍ په خاص کجکي کې له یرغلګرو او ګوډاګیو عسکرو سره هغه مهال سخته جګړه وشوه چې د دښمن عسکرو په سیمه کې پراخ عملیات پیل کړل، په جګړه کې دښمن ته د اوښتو تلفاتو دقیق ارقام نه دي ترلاسه شوي 2013-01-16

باباجي: له ګډ دښمن سره سخته جګړه وشوه

د هلمند ولایت د باباجي ولسوالۍ د کوپکي په سیمه کې د بوغرا پر غاړه له اشغالګرو او ګوډاګیو عسکرو سره جګړه وشوه، په جګړه کې دښمن ته تلفات واوښتل خو دقیقه شمېره یې نه ده څرګنده شوې، خبروایي په سیمه کې د سخت بمبار له امله یو تن مجاهد د شهادت لوړ مقام ته ورسېد، انالله وانا الیه راجعون 2013-01-16

ګرشک: ماین د یوه اربکي ژوند واخیست

د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د زمبلي په سیمه کې په اربکیانو هغه مهال د ماین چاودنه وشوه چې د مجاهدینو له لوري د یوه ښخ شوي ماین د شنډولو په هڅه کې وو، چاودنې یو تن اربکی ووژه. 2013-01-16

باباجي: 3 اربکیانو ته مرګ ژوبله واوښته

د هلمند ولایت د باباجي ولسوالۍ د لوچک په سیمه کې په اربکیانو لومړی د ماین چاودنه وشوه او بیا تر وسلوال برید لاندې راغلل، په پېښه کې ۲ تنه اربکیانو خپل ژوند له لاسه ورکړ او یو بل سخت ژوبل شو. 2013-01-16

نهرسراج: د ګډ دښمن 3 عسکر قتل یو ژوبل شو

د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د نهر سراج د سره شاخ په سیمه کې ګڼ شمېر یرغلګرو او ګوډاګي عسکرو د چورلکو په توسط راښکته او د مجاهدینو تر وسلوال برید لاندې راغلل، د خبر له قراره د جګړې په مهال د دښمن په پیاده عسکرو ۳ ماینونه هم وچاودېدل چې له امله یې د ګډ دښمن ۳ تنه عسکر ووژل شول او یو بل ژوبل شو. 2013-01-16

نادعلي: په ټانک چاودنې 15 اشغالګرو ته مرګ ژوبله واوړوله

د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ د باري ګل بازار په سیمه کې د ښکېلاکګرو په زغروال ټانک د ماین زورورې چاودنې ټانک پوره ویجاړ ۲ تنه ښکېلاکګر ووژل او ۳ تنه نور یې سخت ژوبل کړل. 2013-01-16

سنګین: تکتیکي چاودنې 3 اربکیان قتل 2 ژوبل کړل

د هلمند ولایت د سنګین ولسوالۍ بازار ته نږدې د ساروان کلا د موټروانو په اډه کې تکتیکي چاودنې ۳ تنه

اربکیان ځای په ځای ووژل او ۲ تنه نوریې سخت ژوبل کړل. 2013-01-16

نوزاد :له ګډېښ من سره سخته جګړه وشوه
دهلمندولا یت دنوزادولسوالۍ دانار ک کاریزپه سیمه کې ګڼ شمیر یرغلګر او ګوډاګي عسکر دچورلکوپه مټ رابښکته اوله سخت مقاومت سره مخ شول ، په جګړه کې دښمن ته درانه تلفات واوښتل خودقوقه شمیره یې نه ده څرګنده شوې،دخبرله قراره په جګړه کې یوتن مجاهددشهادت لوړمقام ته ورسېد ، اناالله واناالیه راجعون 2013-01-17

نهر سراج له ښکېلاکګرو او ګوډاګي ښمن سره درنه جګړه وشوه

دهلمندولایت د ګوشک ولسوالۍ دنهر سراج دیخچال مکتب په سیمه کې ګڼ شمیر یرغلګراو ګوډاګي عسکر د چورلکوپه مټ دعملیاتو په موخه رابښکته اوله سخت مقاومت سره مخ شول ،په جګړه کې دښمن ته داوښتي زیان کره شواهد نه دي ترلاسه شوي .2013-01-17

باغران :پوسته فتح 3عسکرووژل شول
دهلمندولا یت په باغران ولسوال ی ک ې دګوډاګیوعسکرو په پوسته وسلوال بریدترسره شو،دبرید په ترڅ کې ددښمن پوسته په بشپړه توګه فتح ۳ تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول اوپاتي نور یې په ښتېښ ته بریالي شول ،خبروایي په جګړه کې ۲ تنه مجاهدین دشهادت لوړمقام ته ورسېدل ، اناالله واناالیه راجعون2013-01-17

مارجه :دښکېلاکګرو ټانکدما ین ښکار شو
دهلمندولا یت دمارج ې ولسوالۍ دعصمت بازارپه سیمه کې داشغالګرو زغروال ټانک دځمکني ما ین ښکار اوپوره له منځه لاړ ،په دې سربېره په ټانک کې ناستواشغالګرو ته درنه مرګ ژوبله واوښته. 2013-01-17

ګوشک :یوغلګ رو2ملکي وګړ ي بند یان ک ړل
دهلمندولا یت دګوشک ولسوالۍ دکلا ی ګذ په سیمه ک ې دکر یم داداکاپه کلي ک ې ګڼ شمیر یرغلګراو ګوډاګي عسکر دچورلکوپه توسط رابښکته شول، دښمن دعملیاتو په مهال ۲ تنه کلیوال ونیول او له ځان سره یې دبندیانو په توګه بوتلل . 2013-01-17

نوزاد چاودنو کې دښمن 4 ټانکونه چاودنو 15 عسکروته مرګ ژوبله اوړوله

دهلمندولا یت دنوزادولسوالۍ دترنګیانو په سیمه کې په هغ و اشغالګرو اوګوډاګي و عسکرو دځلوروما ینونو چاودني وشوې چې سیمې ته دعملیاتو په موخه راوتلي وو،دچاودنوله امله ددښمن ۴ ټانکونه په بشپړه توګه ویجا ړاوپکې سپاره ۸تنه عسکر ووژل شول او۷ نور سخت ژوبل شول . 2013-01-17

ګوشک :چاودني د2پولیسو ژوندواخیست
دهلمندولایت د ګوشک ولسوالۍ بازار ته نژدې د نوزاد د موټرانو په اډه کې دپولیسوپه موټرسایکل کې دځ ای په ځای شوي ماین چاودني موټر سایکل ویجاړاو ۲ تنه پولیس ووژل. 2013-01-18

سن ګین :ما ین3پول یس م ړه اوژوبل ک ړل
دهلمندولا یت دسنګین ولسوالۍ دپانکولي په سیمه کې دنظم عامه پولیسو په پلې ګزمه دما ین زورورې چاودنه وشوه ،دچاودني له امله ۲ تنه اجیر پولیس ووژل شول او یو بل سخت ژوبل شو. 2013/1/19

ګوشک :3اربکیانوته مر ګ ژوبله واوښ ته
دهلمندولا یت دګوشک ولسوالۍ دآدم خان دآډې په سیمه کې داربکیانو په پلې ګزمه دما ین چاودنه وشوه له چاودني وروسته ددښمن په عسکرو وسلوال بریدهم ترسره شو په دواړو پېښو کې ۳ تنواربکیانو ته مر ګ ژوبله واوښته . 2013-01-19

نوزاد :ما ین یو ګرجستانی عسکر قتل بل ژوبل کړ
دهلمندولا یت دنوزادولسوالۍ دګومي کاریزپه سیمه کې پرغزني لي سړ ک د ګرجستاني ښکېلاکګرو په پلې ګزمه دماین چاودنې یو ګرجستاني عسکر ووژه او یو بل یې سخت ژوبل کړ. 2013-01-19

نوزاد: د دښمن په اکمالاتي کاروان برید تر سره شو

د هلمند ولایت د نوزاد ولسوالۍ د انزر شالي کارېز په سیمه کې د دښمن په اکمالاتي کاروان وسلوال برید تر سره شو، په برید کې دښمن ته تلفات واوښتل خو دقیقه شمېره یې نه ده څرګنده شوې. 2013-01-19

نادعلي: د اجیر اردو په قرارګاه وسلوال برید وشو

د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ د بېلري په سیمه کې د اجیرې اردو قرارګاه تر وسلوال برید لاندې راغله، په برید کې دښمن ته تلفات واوښتل خو دقیقه شمېره یې نه ده څرګنده شوې. 2013-01-19

خانشین: د اجیر اردو ټانک په ماین والوزول شو

د هلمند ولایت د خانشین ولسوالۍ د خیرآباد په سیمه کې د اجیرې اردو ټانک په ماین والوزول شو د چاودنې له امله ټانک په بشپړه توګه ویجاړ او پکې ناستو عسکروته مرګ ژوبله واوښته خو دقیقه شمېره یې نه ده څرګنده شوې. 2013-01-19

خانشین: ټانک ویجاړ 2 عسکر ووژل شول

